# د غوايي هډوکي

ناول

ليکوال : م ـ اکبر کرگر



www.sikaraam.com

www.sikaraam.com

(۱)

دچهارشنبې دورځې د لس کم څلورو بجو له شیبو نه
پوره شپږ میاشتې سبا شوې وې چې زه یې بیا
دیوې اوسپنیزې دړې مخ ته ودرولم ـ همدومره یې
راته وویل چې ورځه همدلته اوسه ـ کوټه هر څه لري
. بستره رجایي اوښه کوچنې کوټه ده ـ اندیوالا ن دی هم
پردي نه د ي ـ ټول یو بل سره پیژنی ـ هغه همدومره
وویل ـ ددروازې په بیرته کولو سره ستون شو اوزه هم
ننوتم ـ سلام مې واچاوه ـ دوه کسه ویده وو ـ یو تن



www.sikaraam.com

ویښی ناست و۔ دسرپه اشاره یې په خالي بسترې باندې دکښېناستو وویل : همدا ستا ځای دی ۔ ستا خپل دی ۔

هغه شپه مې بې غږه غوږه تیره کړه ۔ یو بل سره مو ډیرې خبرې ونه کړې ۔ یوازې دومره پوه شوم چې څوک څه نومیږي اوڅوک دکومې سیمې دلته راغلي دې ۔

خو په کوټه کې ماته هرڅه نااشنا اونابلده بریښېدل ۔ کوټه، دهلیز ،کړکۍ دروازه دکوټې ملګري ، دکوټې دکسانو یو بل ته په دقت اوځیرځیر کتل دا هر څه نا اشنا وو۔ اصلا یو نااشنا چاپیریال و ۔ دوه شپې مې دهمدې نااشنایې په حالت کې هلته تیرې شوې ۔ دحواسو اوفکرونو له مخې لا په دې کې نه ووم چې ګوندې زه دې په یو داسې میلمستون کې اوسم چې دمخه مې ورته تصور هم نه ووکړی ۔ د دوه شپو اوورځو په ترڅ کې اصلا زه دمیلمستون انګړ ته هم نه ووم وتلی ۔ نه خو په ما کې کومه متره وه اونه مې زړه کیده چې بهر وګورم ۔ په دریمه ورځ ماسپښین مهال دروازه ورو شانته ټک ټک شوه ، په خوا کې ملګری مې ددروازې دبیرته کولو په نیت له ځایه پاڅید ، خو زما دراځه غږ ورسره هم غبرګ شو ۔ یو په ونه ټیټ سړی چې په مخ کې یې لږې ګونځې هم بریښیدلې۔ خو په تنده باندې یې ګونځو اوږدې اوپنډې موړې جوړې

کړې وې  له عادي حالت نه لرې اوښتې مالومیدلې ـ ببرو  وروځو یې دستروګو له پاسه چتر جوړ کړی وو ـ سترګې یې په بارخوګانو  اودمخ په کاسه کې ننوتې وې ـ لندې بوڼدی مې وریځې بریري یې څیره له پخوا بدله کړې وه ـ  هغه ما ډیر کلونه وړاندې لیدلې وو ـ په هغه کالونو کې چې زه لا کوچنی ماشوم اودی مست ځلمی وو ـ هغه مهال یې په څیره کې دطراوت اوتازه ګۍ هیڅ کمی نه وو  خو اوس چې یې وینم  ـ دهغه په څیره کې وینم  چې دژوند دومره زیاتو کلونو هغه څومره زهیر کړی اوسپیره کړی دی ـ په  هغو تیرو کلونو کې  مې هیڅکله په داسې سپینو کالیو کې نه وو لیدلي خو دا ځلي مې په سپینو بمبل کالیو کې هم ولیده ـ کوټې ته په راننوتولو سره را تر غاړه وتلو ـ ښه ګړه بړه یې وکړه ،اوپوښتنې یې هم دکوڼړ دغرنیو کلیوالو  په خیر درې څلور واره راغبرګې کړې ـ

دکوڼړ په کلیو کې چې به په وستل کې هم دغرنیو کلیوالو  سره مخامخ شوې نو هغو به دورغومي اووزې پوري دټولو پوښتنه کوله اوځینې کلیوال خو به چې  داوبو له ژرندو لیرې  وو  نو هغو به دا پوښتنه هم کوله چې ددرې ژرندې ګرزیدلې که څنګه؟  سرکال اوبه شته که څنګه ؟ شولې ډیر ې شویدي اوکه جوار ؟ نو  کامل خان کاکا هم دا عادت ښه له ځان سره ساتلي وو ـ دټول بال بچ له پوښتني وروسته کښیناستو ـدکوټې  ملګري



www.sikaraam.com

ورته دچایو پیاله په مخکې کیښوده ـ هغه ترې یو گوټ وکړ اوبیایې  بیرته په ځمکه کیښوده ـ اوهمدومره یې وویل ښه داهم شکر دی چې تردې ځایه خو ژوندی رارسیدلی یې ـ

ایله دمنې شپه لگیدلې وه ، دسنبلې میاشت له نیمایې نه اوښتله ـ  دمازدیگر ځلور بجې کیدونکې وې ـ هو پوره  دمازدیگر ځلور بجې !

رښتیاکله چې دا ساعت راورسیږي اویا دساعت گړیو ته وگورم چې ځلور کیدونکې دي نو ماته هماغه  لومړی شیبه رایاده شي ـ هغه دردوونکې شیبه ـ هر څه چې هڅه وکړم چې حواس مې راټول کړم اودکامل خان خبرو ته په غور شم ـ خو ځان ویشلی احساسوم ـ یو خوا دکامل خان سره خبرې اترې اوبل خوازما رنگه بنگه فکرې دونیا ـ په ذهنې لحاظ په یوه داسې دوه لارې کې ودریږم  چې هرې خواته هم  دقدم اخیستلو متره را کې ورکه شي ـ

کامل خان کاکا وویل : دا کوټې نم یا رطوبت لري کله ناکله قدم وهه ـپه یو ځای مه کښینه ـ دیوځایي ناستې نه ډیر تکلیفونه پیدا کیږي ـ دپښو درد پیدا کیږي ـ اوبیا یې وویل :

ځئ چې بهر لاړ شو اوپه انگړ کې لږ  قدم ووهو ـ



www.sikaraam.com

ما وویل ته خو دې چای خلاصې کړه ـ وتل اسان دي ـ

-

ادی چای خلاصې دي ـ

-

ۀ چې ځو ـ

دهغه په ټینګار چې بهر ته باید ووځو اوقدم ووهو، پاڅیدو ـخوبیا هم زمافکر قدم وهلونه شو بدلولي اونه دهغه خبرو ـ دا ځکه چې ساعت څلور کیدونکې وي ـ په هر ډول چې وي خو دڅلورو بجو شیبه ماته دهیریدو وړ نه ده ـ

میلمستون هم عجیب ځای وو ـ هغه یوه دنګه اوبرجوره کلا وه ـ دیوالونو یې سوري اوکړکۍ هم نه درلودي ـ ماته په ماشومتوب کې دپیریانو اودیوانو په کیسو کې ددا ډول کلاګانو تصویرونه ذهن کې ناست وو ـ خو داکلا هم داشانې یوه افسانوي کلا وه ـ په کلا کې داسې دروازې اوکړکۍ نه وې چې څوک لیرې دښتو اوپټیو ته پام وځغلوي ـ هلته لیري دغرو په تړو اوناوونو کې کوچی یا شپون دخپلو رمو پسی په هله اوهله وویني ـ اونه هم دکلي دماشومانو درینجکی اودخوسکي لوبه وګوري



www.sikaraam.com

اوداسې هم نه چې له دې ځايه ليرې په سرک کې دګتهو اوخښتو لارې وګوري چې شاته ددوړو يو اوړود تناب په ځان پسې راکاږي ـ داسې شيان هډو نه بريښيدل ـ بلکې هيڅ نه وو ـ

دلته بس يو ه دنګه کلا ده چې بلې يې تر اسمان رسي اوبرجونو يې دچا خبره چې اسمان ته اوږه ورکړې ده ـ نو يوازې اسمان په کې ښکاري دکلا له بليو پورته اسمان لکه روزان ـ داسې بريښې چې اسمان ته هم دا يوه لاره وي ـ

کله چې به دکلا په انګړ کې څوک ودريده نو يوازې دکلا دديوالونو په تناسب به پاس څلور کونجه اسمان ښکاريده ، همدې تصورير دکلا دميلمنو ذهن جوړاوه يعنې محدود اسمان ، محدود چاپيريال اوپه ديوالونو کې را ګيره نړۍ اودونيا ـ اوکله چې به دانګړ پر سر الوتکه يا چورلکه را ښکاره کيدله نو يوه لږ شيبه به يې نيوله اوډيره ژر به له سترګو پناه کيدله ـ دکلا ميلمانه چې به په وار وار سره دورځې په ماښال دوه درې واره دميلمه پال په امر دکلا انګړ ته راوتل اوهلته به يې قدم وهلو دالوتکو يا چورلکو اويا دټپوسانو په تيريدلو به ټولو په سترګو ديوه لاس چتر جوړولو اوپورته به يې کتل ـ



www.sikaraam.com

هلته دمیلمستون بر سرته یوه بله دروازه هم وه ، هلته دچا خبره دمیرمنو دهلیز وو .څو تنه میرمنې ، کورنۍ اوماشومان پکښې میلمانه وول ، اوهغوی به هم دتفریح پر مهال انګړ ته راوتل ـ هلته به یې په خپلو منځو کې لوبې کولې دهغوی په لیدلو به بیا سره له دې چې ګرداګرد به له یوه بل ملګري سره ګرځیدم اوقدم به مې وهلو ،دکوچنیو ماشومانو څخه به مې سترګې نه اړولې اوزما ذهن به یې دنویو اونویو خبرو په تنابونو کې کشولو ـ

(۲)

خبره داوه چې په هغه شپه ان تر سهاره پورې ویښ پاتې شوم ـ نه پوهیږم چې زما په حواسو څه شوي وو چې زما سترګې یې پټیدلو ته نه پریښودلې ـ کله به یې خپل ماشومتوب ته ورستون کړم ـ کله به یې لښته په لاس راکړه اودپټیو په پولو به مې غوا څرولې ـ اوکله به هم دخپلو همزولو سره په وستل کې په لوبو بوخت وم ـ دپلار منت به مې یو وار په وجود ویښته رانیغ کړه چې په قهر به یې ویل ـ بې ځایه مه ګرځه ـ



www.sikaraam.com

لوی سړی یې غوایانو ته شوتل خو ریبلی شي - بیا به مې دښوونکي پهلاس پیږه لښته ولیدله چې هر په سبق کې ناغیړی زده کوونکي ته یې نیسي اوشین وریت کوي یي اوزه خو سره له دې چې دوهلو نه ووم -خو په هر یو چې دلښتې وار لګیږي زما تن هم ورسره سوی اودرد کوي - هغه شپه دیو ې پیښې وروسته بله راغبرګیدله اوزما په ذهن کې لارې کولې -

له یوې خو زما یکې یو زوې چې ددرې کالو ماشوم وو ، سخت تبو نیولی وو - میرمن مې هم دا شپه ورسره په ویښه تیره کړه اوزما هم سترګه ورنه رغلله - دسهار رڼا لږ څه لګیدلي وه چې خوب وزنګولم - سترګې مې پټې کړې اودلږي شیبې له پاره پریوتم - دیوې کلکې لښتې په ګوزار باندې چې پر سر یې ووهلم له خوبه رابیدار شوم -

میرمن مې هم هیبت وکړ - هغه هم ویښه شوه - ژر مې دماشوم پوښتنه وکړه - هغې وویل - کومه ښیګڼه یې نه ده کړې په هماغه حال دی -

ما چې له اوږدو منډو ترړو وروسته دژوند بل پړاو پیل کړی وو - دکابل ښار په لویدیزه څنډه کې مې یو کوچنی کور په کرایه نیولی او په هغه کې اوسیدم - یوازې یوه کوټه مې په کې په کرایه کړې وه - انګړ یې پراخه وو دیوالونه یې دومره جګ اودنګ نه وو لکه ددې میلمستون چې زه



www.sikaraam.com

يې کيسه کوم ـ دروازه يې کلکه وه ـ دشپې په مهال به مو کلف وراچولو او دورځې له خوا به دځنځير کونډه ورپرېوتله ـ

دسهار له چايو وروسته چې مې کالي بدل کړل اوکار ته روانيدم ، کور وداني راته پنځوس افغانۍ په جيب کې کيښودې اوپر ما يې په بيا بيا ټينګار وکړ چې مازديګر به ارومرو له ځانه سره دزاړه غوايي هډوکي راوړي چې جوش يې کړم ـ اوښوروايې ماشوم ته ورکړم چې شرې نيولي دی ـ

هغې زياته کړه :

پرون زموږ دګاونډي ميرمن راغلې وه ـ هغې وويل چې دشرې ناروغ ته دزاړه غوايي دهډوکو ښوروا ښه ده ـ ځکه چې يو دوه وارې ورته دغه ښوروا ورکئ ژر به پرې شرې راوخيژي اودرد به يې ارام شي ـ زه دې خبرو لږ اوتر کړم ـ

ماوويل : ښه دا کار به وکړم خو دغه ترور ونه ويل چې دښکرور غوايي اوکه دبې ښکرو غوايي هډوکي ـ ؟ کورودانه په غصه شوه ويل يې ، دا دټوکو وخت نه دی ـ تا بې ښکرو غوايي ليدلی دی ؟ـ غوايي خو ښکر لري ـ



www.sikaraam.com

اوبيا مې دا هم ذهن ته راغله رښتيا هندوان چې غوايي ته عبادت کوي خو په دې باور لري چې ځمکه دغوايي په ښکرونو ولاړه ده ـ

همدې ذهنې اوخيالي خبرو سره دکوټي له زينې راښکته شوم اوله دروازې څخه په راوتلو کې يې دشاه له خوا بيا راباندې غږ وکړ- گوره چې له ياده دې ونه ووځي ـ دغوا هډوکي نه ،دزاړه غوايي هډوکي ـ اوگوره چې دکوم خوسکي هډوکي رانه وړي ـ دزاړه غوايي هډوکي!!

خو زه دهغې دوينا اولارښونو وروسته چې تل يې زما په مغزو کی دټينگار ميخونه ټک وهل ، دکار په لور روان شوم ـ کار ځای ته ورسيدم ، په دفتر کې مې نوی په کار پيل کړی وو -ورځني اخبارونه به مې کرښه په کرښه لوستل چې چا په کې کومه سهوه اوغلطي نه وي کړي اوکه يو ټکی به هم دمشر اورهبرانو په اړوند ناسم وو نو ژر به مې ترې کرښه تاووله اوبيا به مې خوندي کاوه ـ چې خپل امر ته يې وښايم اودهغه په سترگو کې ديوه خدمت گار اورښتيني مامور په توگه ځان ووهم ـ خپل خدمت دنورو په تکليف کې څرگند کړم ـ

خو هغه ورځ را باندې ډيره اوږده شوه ـ په دفتر کې هم خوب زنگولم ـ دبيگاه شپې تصوراتو اوبې خوبيو اوسر درد بې انډوله کړی ووم ـ غرمه شوه ، ماسپښين شو اوڅلور بجې نږدې شوې ،لاسې بکس مې



www.sikaraam.com

راتول کړ ـاوتکل مې وکړ چې اوس پاڅیږم اودزاړه غوايي دهډوکو پسی وخوځیږم ـ

(۳)

یوه ورځ مې په خپله کوټه کې بالښت ته تکیه کړې وه اودتورو چایو پیاله مې پورته کوله چې کامل کاکا بیا په دروازه راننوت ، له سلام نه وروسته یې سم دواره وویل : هلکو څلور بجې دي بهر ته قدم وهلو ته نه ووځی ؟

ما ویل : کاکا راځه لږه دمه وکړه ، وبه ووځو ـ ما چې هر څه دچایو سلا وکړه هغه وویل چای نه څښنم ، ټوله شپه ویښ ناست یم ، اوبیا مې زوروي ـ خو دوتلو اوقدم وهلو لیوالتیا یې بیا تکرار کړه ـ موږ هم را پاڅیدو اوپه دهلیز کې سره یو دبل پسې شولو ـ

کامل خان دپوځ یو پخواني افسر وو ـ دډګروالۍ رتبې ته رسیدلی وو ـ مسلک یې توپچي وو ، خو وروستی دنده یې د دارالامان دراکټ په قطعه کې وه ـ ښه پوخ اوتجربه کاره سړی وو، هغه می پخوا په خپل کلي کې کله چې زه په لومړني ښوونځي کې ووم لیدلی وو ـ هغه محال ځوان زلمي اونوی افسر شوي وو ـ هغه وخت دود داسې وو چې له کابله به



www.sikaraam.com

ځوک پوځیان کلي ته راتلل نوعسکري یونیفورم به یې په غاړه وو ـ که رتبه به یې هر څه وه خو خلکو به ورته ظابط صیب ویلو ـ کامل خان هم ما په داسې یو حالت کې لیدلی و۔ دهغه په لیدلو به ارومرو راغبرگیدله چې  یوه ورځ له موټره کوز شو ، عسکري یونیفورم یې په تن وو  ، په چټکۍ یوکلیوال را مخ ته شو اودهغه بکس یې په لاس کې واخیست او تر کوره یې بدرگه کړ ـ خو اوس هماغه کامل خان دلته په دې میلمستون کې دی۔ اونن چې یې گورم نه یې پیک داره خولۍ  پرسر ده اونه یې هم عسکري یونیفورم په تن کې دی ـ ښه لا داچې بوندېه ږیره یې هم پرې ایښې ده ـ سپینې جامې یې په تن کې دي   ، پاک ستره گرځیده ـ دماسپښین له لمانځه وروسته محال وو ـ تسبیح یې په لاس کې وی ښایسته زیاته گړه بړه یې را سره وکړه ـ  دکور کهول پوښتنه یې وکړه ـ خو دایي هم وویل چې زړه به نه تنگوي ، میلمستون ((میلمستون)) دی شپې ورځې اوړي ـ دکوټې بل ملگري ، عمر جان کامل کاکا ښه پیژانده ، ځکه دواړه افسران وو خو عمر جان دهغه له کیسې نه ښه خبر وو اوپه دې هم پوهیده چې کامل خان ولې داځال په دې میلمستون کې دی ـ خو په دې نه پوهیده چې دمازدیگر په محال ولې هغه هره ورځ سپینې جامې اغوندي ؟۔

(۴)



www.sikaraam.com

دانسان په ذهن کې داسې نقطې وې چې دهغو په یاد اوتداعي سره دوجود په ټول عصبي ریشتو کې  درد اوسوی غزیږي ـ دڅلورو بجو شیبهم ماته یو ه داسې ډول شیبه ګرځیدلي وه ـ داداسې شیبه وه چې دژوندانه په یوه پړا وکې دبدلون جوګه وه ـ همدارنګه کامل خان کاکا به معمولا په څلورو بجو شاوخوا زموږ کوټې ته را کوزیدو ـ اودهغه په لیدو به نیغه ماته دا شیبه را تداعي شوه ـ اودهغه په دې وینا  چې هلکو څلور بجې دې ځۍ چې بهر ووځو ـ ماته یو وار بیا هغه ورځ رایاده شوه  چې زه په دفتر کې ناست ووم بکس اوکتابونه مې راټول کړل ، په دې تکل کې ووم چې دکور په لور رهي شم اودوزارت سرویس ته ځان ورسوم په همدې فکر کې ووم چې باید دبس په مخکینۍ څوکۍ کښنیم چې په لار کې کوز شم ـ اوهر چیرته چې دقصابانوکوڅه وي هلته ورننووځم ـله قصاب څخه دزاړه غوايي هډوکي واخلم ـ  همدې فکرونو مې یو لوی دیوال له ذهن څخه را چاپیر کړي وویوه شیبه په څوکۍ کښیناستم بیا پورته شوم  په میز تکیه شوم لاس مې په لاسې بکس کلک  ایښی وو ـ دپاڅیدو په تکل کې ووم ـ ناڅاپه مې په دروازه سترګې ولګیدلي ـ دوه تنه په دروازه کې را ښکاره شول ـ لومړي په خپلو کې وپسیدل ـ یو رادمخه شو  دروازې ته ودرید ـهغه  یوه تن لاس وخوځاوه ـ امین الله ته یي ـ زه حیران شوم ، بیا مې وویل: هو ! امر خدمت !



www.sikaraam.com

-

ه مو په کار يې ؟

-

ه موپه کار يم ؟ زه ..

-

و ته امين الله .

-

ه کار دی ؟

-

ه بهر راشه !. بهر په دروازه کې ستا يو دوست دی دهغه په کار يې .

سترګو مې تور وخوړ ، حيران شوم . دواړو کسانو ځادرونه له ځانه تاو کړي وو . ديوه تن اوربوز هم پټ وو. ددواړو ځيرو ته مې وکتل ، لومړی راته ځيري دوه اوبيا ځلور شوې اوبيا همداسې زياتيدلې . دپښنو په تلو کې مې خولې احساس کړي . دځمکې سره مې احساس پردې کيده لکه



www.sikaraam.com

چې ځوړند يم ـ همدا مهال مې دقصاب څيره هم ذهن ته ودريده ـ اوپه دې الفاظو راسره چمبړ دی !

ګرانه ! موږ تش هډوکي نه پلورو که دغوښې په بيه يې اخلې ـ ، نودادی بسم الله ! اوکه نه نو مه مې زوروه ـ

خو زه ورته وايم سمه ده ـ دغوښې په بيه يې راکړه  دا ځکه چې زه ورته اړتيا لرم ـ زه يې بايد واخلم ـ !

خو همدا دوه تنه چې اوس مهال ماته دڅو تنو په حساب دي اوشيبه په شيبه نور هم زياتيږي ـ په دروازه کې ولاړ دي ـ زه خپل لاسي بکس اوکتاب رااخلم ، خو هغه يو تن يې وايي ـ دغه پريږده بيرته به راشي ـ کوم چاته يې ورکړه ـ اوبيا له دروازې ووتم ! پوښتنه ترې کوم ؟

چيرته څو ؟

-لاندې ستا يو ملګرې ولاړ دی هغه دې وينې !

دلويي ودانۍ له دريم پوړ څخه لومړي پوړ  ته را کوز شولو يو مې يوې خواته اوبل مې بلې خواته  روان دي ـ له ځانه سره وايم --



www.sikaraam.com

((..  زه خو هيڅکله چا داسې نه يم بدرګه کړی ؟ داڅنګه کيدای شي ؟
اوبيا دقصاب تيرو چړو ته زير کيږم ، چې څنګه تيره چاړه لومړی په بيلو
اچوي اوبيا يې په  ځان پورې ځوړندې ډبلې چمړې يو مخ اوبل مخ وهي
اوبيا پرې غوښه توږي -

بيا په خپل څنګ کې روانو کسانو ته ځير شم - دوی ته ګورم دوې يو بل
ته ګوري ، په سترګو سترګو کې افادې ورکوي - خو زما ذهن  دقصاب
سا طول سره بوخت دی ، چې څرنګه دزاړه غوايي په هډوکو يې راخطا
کړي ، هډوکي ريز مريز شي اوبيا زه ورته وايم -

قصاب کاکا پيسې دې څو مره کيږي ؟

اوهغه وايي ، تاسې  لس روپۍ راکړی - دوه نيمې روپې دې لياظ(لحاظ)
ځکه چې ناروغ لري - ))

ناڅاپه ښی لوري کس مې په اوږه لاس ږدي  - چرت مه وهه - څه !دي
والګا موټر ته خيژه! ته نن زموږ ميلمه يې - بې غمه اوسه ، فکر مه کوه ،
موږ ډير ښه ميلمستون لرو ،،،،

ما غږ غوږ ونه کړ- اوددوی دميلمستون په مانا هم پوه شوم -

(٥)



www.sikaraam.com

دمني هوا لګيدلې وه ـ ارومرو چې دونو پاڼې زيړې شوي وې ـ عمرجان غبږ وکړ ـ څه چې دباند انګړ ته ووځو لږي پښې ارتي کړو ـ اولږ قدم ووهو ـ

-څه چې ځو !

دواړه را پورته شولو صمد هم په کوټه کې اوږود پروت وو- اواسلم هم سترګې غړولي ـ خو له ځايه ونه ښوريدل ـ

زه اوعمر دواړه دکلا انګړ ته دراوتلو په لاره کې وو چې کامل خان کاکا له پاس منزل څخه راکښته شو ! بيا يي هم سپينې جامې په تن وې تسبيح يې په لاس کې وې ـ دمخ سنت يې اخيستې و ـ خو داوار لږ څه دروند ښکاريده ـ شونډې يې هم وچې وې ـ دروغبږ نه وروسته درې واړه انګړ ته راووتلو ـ

دپاس پوړ کوچنې ماشومان هم راوتلي وو دديوال چنې ته ناست وو ـ په خپلو کې يې لوبې کولې ـ هغوی بيا زما پام ځانته راښکود-

په انګړ کې ټول ميلمانه چوپ اوغلي ناست و ل ـ هغوی دنورو ورځو په څير ټوکې اوخبري نه کولي ـ اونه يې هم خندا ګانې کولي ـ لکه چې تيره



www.sikaraam.com

شپه څه پیښ شوي وي ـ هو همداسې وه ـ له کامل خان نه مې پوښتنه وکړه :

څه خبره ده چې ټول غلې اوچوپ ناست دي . ؟

هغه وویل: پسې مه ګرځه ـ داددې میلمستون قانون دی .چې کله نوي میلمانه راشي نو ځای باید ورته تش شي یا پیداشي ـ اودزړو میلمنو نه یو څه شمیر لږ شي ـ خوهغه مهال زه دهغه دخبري په مانا دومره ونه وپوهیدم ـ

هلته له اتو بجو وروسته څراغونه وژل کیدل اوټول میلمانه به په جبري توګه ویده کیدل ـ تیره شپه هم یو عجیبه شان کیسه وه ـ دمیلمستون میلمه پالان ګړندي ګړندي اوتاوده تاوده په اوږود دهلیز کې کښته پورته کیدل څراغونه مړه شوي ول ـ دشپې دیوې بجې په شاوخوا کې دیو موټر غرهار واوریدل شو ـ کړپ کړوپ هم ورسره وو اوبیا یې له دوه درې کوټو څخه څو کسه وویستل ـبیا په میلمستون کې عجیبه حال وو ـ کله نا کله به دداسې شپو په سهار یو درووند اوله وهم اوترهې ډک اسمان راکوزیده ـ دانسانو اوپه تیره ددغه برجورې کلا په دیوالونو به کښیناستلو ـ په کلا کې به داوسیدونکو کسانو په مریو اوستونو فشار نور هم زیاتیده ـ په یو



www.sikaraam.com

نامالوم لوري به هر چا سترگې ګنډلې وې ـ خو داظهار اوڅرګندولو مجال نه وو ـ

خو دا سهار چې مور انګړ ته راووتلو په انګړ کې دپاسنې پوړ دکوټو څو تنه نه برېښېدل ، چا ددې وس هم نه درلود چې پوښتنه وکړي ـهغوئ تللي وو اوبیا نه راستنیدل ـ دکوټي انډیوالانو یې پیالي اوکاشوغي ورټولي کړې وي ـ بسترې یې ورته ځنډلې اودکوټې په یوه کونج کې یې ایښې وي ـ

په انګړ کي ددوه درې واره تاویدلو اورا تاویدلو نه وروسته ددیوال چنې ته کښیناستو ـ تکیه مو وکړه ـ هلته دښځو اومیرمنو له دروازو څو تنه ماشومانو لوبې کولي ـهغوئ دوه درې تنه پخپلو کې اخته وې ـ دلوبو له پاره یې نغري جوړ کړي وو ـ دنغري له پاسه یې یوه ډبره ددیګ دښې په توګه ایښې وه ـ اوپه خپلو کې سره په خبرو وی ـ

زرمینې ! په دیګ کې دې څه باندې کړي دي ؟

-نه ګوري وریجې مې په کې اچولي دي

- ولې میلمانه راځي ؟

- هو زمور خپلوان راځي ـ



www.sikaraam.com

- نو غوښه دې نه ده پخه کړې ؟

- نن قصابي تړلي وه ـ وايي چې دقصاب زوی ناروغه وو ـ دوکان یې تړلی وو۔

دماشومانو خبرو یو وار بیا خپلې دیرې اوهوجرې ته بوتلم ـ هغه چې ماشوم ووم اوزموږ دیرې اویا هوجرې ته به ځوک راغې اومیلمه به شو نو موږ به ټول تواده تاویدلو دمیلمه قد ر اودرناوی به مو کاوه ـ یوتن به دهغه لاسونو ته اوبه اچولې ـ بل به که په کټ کې کښیناست ، نو بالښت به یې ورته کیښوده ـ اوبل به بل څه ، په هغه ورځ به په کور کې هم ډیره پاملرنه ډوډۍ ته کیدله ـ چرګ به ورته حلالیده اوداسې نور ـ خو دلته هم موږ میلمانه یو څنګه میلمانه ؟ ادڅه له پاره میلمانه ؟ ماشومانو هم دمیلمه په مانا ښه پوهیدل ـ خو هغوی اوس په باب درامه جوړوله اولوبې یې پرې کولې ـ خو ما له ځانه وپوښتل : موږ هم میلمانه یو ـ خو بل ډول میلمانه ـ ؟

اوبیا همدې تصوراتو دفتر ته بوتلم ـ دخپل ماشوم زوی ناروغې راته مخې ته کیښوده ـ دمیرمنې ټینګار مې بیا په غوږونو کې بنګاری وکړ ـ



www.sikaraam.com

((ارومرو به دقصاب له دوکان نه دزاړه غوايي هډوکي راوړي ـ  دقصاب دوکان ، په وينو سره ديوالونه ـ زوړند پسونه ـ ساطول ـ پلنه دڅيړۍ کونډه ـ لنډ لاستی تبر اودقصاب څرمنيزه لمنه ـ هرې خواته دوينو داړې اولاړې  چې ددوکان ټوله ساحه يې نيولې ده ـ دقصاب تروه اګر ـ په قهر اوجدې خبرې ـ اوبيا چې کله ورته يو اخيستونکي ودريږي اوپوښتنه وکړي اودڅه غوښتنه وکړي ـ نو اخيستونکي ته شاه واړوي ـ مخ ديوال ته کړي ـ لږه غوښه اولږ پوټکي چې داخيستو نه وي ، سره راونغاړي  اوچې په خلته کې يې ګډ کړي نو بيا يې اخيستونکې ته ونيسي ـ اوورته وايي دادی ـ سملاسي مې  دديوال له چنې څخه په انګړ کې په ګرځيدو نکو اوتاويدونکو خلکو سترګې ولګيدلې ـ  لکه دقصاب ددوکان پسونه ، لکه وزې ، لکه څاروي ـ اولکه چې دوار اونوبت له پاره يې غاړې اوږدې کړی وي ـ اودمرګ اوحلالي په ګهال لغتې وهي ـ

ټکان مې وخوړ ، شيطانه کور دې وران شه ! قصاب چيرې اودا ميلمانه انسانان چيرې ؟ خو شيطان دچينګو داړو اوڅوکړې بريرې سره راته خاندې اووايي ـ ای بې عقله ـ دقصاب پته دې غلطه اخيستې ده ـ نه دی قصاب وپيژنده اونه دې دقصاب دوکان ـ پخپله چيرې يې ؟ اوبيايي لومړۍ ورځې ته بوتلم  ))

(۶)

په هماغه لومړی ورځ چې له څلورو نه پنځه لس منټه تیریدل ،ماته له خړې نخودې والګا موټر څخه دکوز یدو اشاره وشوه - یو کس له مخه شو اوبل راپسې روان وو ، داسې ترهې اخیستی ووم چې ددریور مخ مې هم ونه لیده - اودوه داسې کسان هم چې هر څه وکړم اوپه خپل ذهن فشار راوړم اوس دهغو تصویر زما په ذهن کې حضور نه پیدا کوي - په یوې تنګه اوتیټه دروازه وردننه شوم - لوی انګړ وو - له دروازې څخه ښی اړخ ته یوه لویه اوږده کوټه لکه عسکري کاغوش وو - خو دانګړ بر سر کې یعنې اوږدې کوټې ته مخامخ دیوه منزل په اندازه په لسو ګامونو کې دمیلمنو له پاره یو لرګین کناراب جوړ شوی وو - له کوټې څخه په اسانۍ سره سړی پورته کیدلی شو ، خو له برې خوا څمکه لږه ریونده اوښوویدونکې وه - په هغه سهار باران هم شوی وو اوتشناب ته دتللو په مهال به میلمنو ښه ډیر دقت کاوه اوپه غور به ختل اوکوزیدل چې راونه ښوییږي -

سید مقصود مې هلته دلومړي ځل له پاره وپیژانده - هغه دکرنې دوزارت مامور وو - دننه لویه کوټه ټوله دمیلمنو ډکه وه - خو په دغه لوی کاغوش دوله کوټه کې چې میلمانه چک اوخوا په خوا ورته بسترې هوارې وي



www.sikaraam.com

توشکونه هم  په کې قسماقسم خواره پراته وو- بخملي پاسته خو لړ څه کلک ، تافته يي ،ساني توشکونه خو اپه خوا اوبړستنې هم په کې رنګينې وې - يوه تن وويل دا بړستنې اوتوشکونه دحضرت صيب  اودنورو پخوانيو لويانو دکورونو د ي چې دلته يې ترې دميلمنو له پاره راوړي دي - په لويه کوټه کې چې لس پنځلس ګزه اوږده وه نژدې ۳۰ يا ۳۵ کسه ميلمانه پکې غزيدلي وو  تابه ويل چې دوی اوس دکروندو له لوونو دلته راغلي دي ، پراته وو ، ځينې خو به داسې په خپلو بسترو کې پراته اومخونه به يې پټ کړي وو چې تابه ويل چې دجوارو وږي يې ټکولي دي - خو واقعيت دا وو چې دجوارو دوږو په څير ټکيدلي وو - مخونه يې پټ وو خوځينو سترګې غړولي اوپه نامالومو اسمانونو کې يې رازونياز کاوه -

خو ځينې دوه درې يا پنځه کسان به سره په يو ه کونج کې راټول ول ، چا به دخپل ساعت تيرولو  له پاره ټوکې اونکلونه اوفکاهي ويلي  اوپه دې ډول به يې تظاهر کاوه - اوڅوک هم غلي په چرتونو کي ناست ول - خو په عين حال کې هر يو ميلمه له بيرون څخه يو غږ اويو اواز ته منتظر وو-

هلته په يو کونج کې زما دښوونځي ددوري محمد اياز استاد  چې زما دپښتو ښوونکې و ،هم ناست وو - ګوښې ناست وو ، تسبيح يې اړولې -



www.sikaraam.com

دکرنې دتخمونو داداري يو مامور چې قدرت الله نوميده اوښه زړه ور هلک مالوميده هم ناست وو. هغه ېهر دوه درې ساعته تر مخه يوې بلې کوټې ته بلل شوي وو ـ ، رانوت ، ګوډ ګوډ کيده خو په مخ يې څه نه راوړل ـ نور و ترې غلي غلي پوښتل : په خير تير شو ـ خو هغه به په موسکا وويل ـ دا دخير ځای دی (!)اوهر څه په خير تيرېږي ـ (!)

بيا يي ماته وکتل ـ راسره روغبړ يې وکړ ـ لږ څه مې خپله کيسه ورته وکړه ـ جيب ته يې لاس کړ ـ هان دادوه پنځوسيان واخله ـ زما هسې هم نه په کارېږي ـ دا چې بل څوک يې اخلي اوجيبونه مې وهي دا ښه ده چې ستا به په کار شي او بيا يې په خندا وويل ـ کيداې شي يوکال ورسته هم که له دې انګړه ووتلې دزاړه غوايي هډوکي به پرې واخلې ـ خو ګوره چې دخوسکي وانه اخلي ـ خوسکي ډير خطرناک دي ـ

يوه ميلمه ترې وپوښتل ښه څنګه شوه ؟

-بس هر څه سم وو زه ممکن درنه ولاړ شم ـ

سر يې کښته واچاوه ـ

-چيرته ؟

- هغه ځای ته چې نور تللي دي ـ



www.sikaraam.com

-اوبیا یي چوپتیا حاکمه کړه ـ داسې مالومیدل : (( چې دخپلې کورنۍ څخه دجلا کیدلو ورستۍ شیبه یې په ذهن کې تاویږي ـ مور یې داوښکو ډکې سترګې ولاړه ده ـ اودوعا ورته کوي ـ بوډا پلار یې په ملا کړوپ دې ـ له ډیره درده نه شي پاڅیدلای ـ خویندې یې اوښکه په وینه وچې دي ـ زړونه یې دخپل ورور له پاره درزیږي ـ ورور یې څه شو ـ چنغوله یې هم خبره شوې ده ـ زړه ښه کوي ـ قدرت الله به ورته په همدې اختر کې دسرو ټیک راوړي ـ راتلونکي اوړي کې به په ګل پوش موټر کي کښیني ـ دنوروز سوغاتې څومره خوندوره وه ـ دنوروز کالي څومره ښکلي دي ـ اوبیا هماغه شرمندوک غږ دقدرت الله په غوږونو کې انګازي کوي ، انعکاس کوي ، شرنګیږي ـ خو قدرت الله ځان نه بایلي ـ نه غواړي چې نور فکر وکړي چې قدرت الله څومره بې زړه دی چې په یوه څپیړه تول داروندار دروغ ورښتیا دمیلمه پال مخې ته بردي ـ اوبیا دیوه همزولي ملګري خبره یې په مغز کې لاره کوي : ((قدر ته زویه ځان ټینګوه ـ چې ومو نه شرموې ـ خو دی وایي ـ چې زه به نه یم اودشرم خبره به هم وانه اوري ـ ډاډه اوسه ـ ))

شیبه پس میلمه پال راننوت ـ غږ یې وکړ ـ

قدرت الله ولد امر الله ـ ګاډی تیار دی ـ کالي دې راواخله ـ



www.sikaraam.com

هغه جتکه وخوړه ـ لکه چې دخيالاتو تناب يې وشليږي ـ اودتناب له پاسه ټول زوړند شيان په ځمکه پرېووځي ـ غږ کوي : تيار يم دادی درغلم ـ ))

له ځايه سپک پاڅيد اوله دروازې ځخه دوتلو پر مهال يې دخدای پامانۍ له پاره مخ راواړه ـ مقصود ورپسې پاڅيد ـ په ټوټه کې تړلي کالي اوجامې يې ورکړي ـ دشونډو پر سر يې خدای پاماني وکړه ـ وابنکې يې په قهرجنه خندا چينگ کړ ـ اوپه پوره غرور سره ووت ـ په نامالومه سفر له کوټې ووت اوچې ووت داوږدو کلونو په طولوعرض کې بيا هيڅ ونه ليد اونه خو سره چيرې مخامخ شو ـ

(۷)

نن سهار دميلمستون انگړ څه بل شان چوپ اوخاموش وو ـ دچا له خولې بيا غږغوږ نه ختلو ـ لويې دنگې کلا ماته دخپل ماشومتوب ټاټوبی را ياد کړ ـ کله چې ماشوم ووم موږ هم په خپل کلي کې يوه دنگه اوبرجوره کلا درلوده ـ زموږ کلا هم دنگ اوجگ ديوالونه درلودل ـ دکلا په ختيز ديوال باندې دتوت يوه زړه ونه را ځوړنده وه چې دانگورو دځيليو څانگې ان دکلا په دنگ ديوال راپرتې وې ـ خو هلته دتوت دونې نه اخوا ډير دنگ چنار ولاړ وو ـ هلته هاغه مهال به هر سهار توراڼه دچنار په دنگه ترکه کښيناستله اوخپله سندره به يې ويله ـ مور به مې همدغه مهال پاڅيدله له



www.sikaraam.com

لمانځه نه وروسته به یې چای دمولو اوبیا به یې دشیروار شاربلو بندوبست کاوه ـ پلار به مې دسهار دلمانځه نه وروسته سم دواره دشنو چایو غوښتنه کوله ـمور به مې لا دمخه ددالان په نغري کې دتپیانو په اور اور بل کړی او چای به یې دم کړې وو ـ

خو زموږ دکور دویم منزل له دالان څخه وړاندې دکلا نه اخوا دنګ غر هم مالومیده ـ ان تر دې چې کوم شپون به دمیږو پسې دهله اواز کاوه اویا به یې شپیلی په شونډو سپره کړه نو اواز به یې زموږدکلا په انګړ کې هم تاویده ـ

خو دمیلمستون په انګړ کې داسې نه وه ـ دلته یوازې پاس اسمان بریښیده ـ کوم ټپوس چې به والوت نو هغه به هم لیدل کیده اوکه چورلکه اوالوتکه به تیریده نو ټولو میلمنو به په وروڅو لاسونه ایښې اوپورته به یې ورته کتل ـ

دمیلمستون دکلا انګړ دومره پراخ نه وو خو دقدم وهلو له پاره بیا هم غنیمت ځای وو اودژمي پیتاوی اویا ځان تودولو له پاره به ډلي ډلي میلمانه کښیناستل اوځانونه به یې لوڅول اوځان ته به یې لمر ورکولو ـ



www.sikaraam.com

خو زموږ دکليوالي کلا په دويم پوړ په دهليز کې به دليرې کليو دملايانو دماښام لمانځه له پاره اذانونه اوريدل کېدل ـ خو دلته داسې نه وه هلته چې به کله جړی شوه اوسخت باران به اوريده نو له برنډې څخه به دپورې غره ناوونه مالوميدل چې څرنګه به په درنګ ساعت کې ډک اوپه تيزۍ راښيدل ـ زه به مې پلار په دروازه کې ودرولم چې اذانونه وکړه اوپه تکرا ر سره ورته دوام ورکه چې خدای پاک باران ودروي چې دکلا ديوالونه ونه لوبيږي ـ

خو ښايسته غټه شيبه به باران واوريده ناوونه به هم ډک را وبهيدل ـ اوزموږ ددرې خوړ به له اوبو ډک اوپه غړمباري شو ـ دهمدغه اذانونو په مهال به زما فکر مخامخ غره کې څمڅې ته شو ـ په څمڅه کې دګوجرو يوه وړه کورنۍ اوسيده ـ چې په ژمي اوسپرلي کې به خدای خبر له کومې خوا دغلته پيدا کيدل ـ اوپه دې ناو کې اوپه دغه مخامخ څمڅه کې به يې شپې سبا کولې ـ خوسې اوغواګانې به يې سهار مهال دغرونو ترو ته شړل اوکله ناکله به ګوجرې مېرمنې دشړومبو دډکو کټوو سره دکلا مخې ته ولاړ ې وې چې خپلې شړومبې وپلورې ـ خودجړۍ په مهال چې به کله دپلار په وينا په اذانونو سر شوم نو سم دواره به مې دګوجرو څمڅه ياد ته راغله ـ سره له دې چې اذان به مې هم په جګ اواز ويلو خو دګوجرو دکورنۍ غم



www.sikaraam.com

به هم اخیستی وو م اوپه دې هکله به مې اندیښنه وه چې ګوجر به په دې باران اویخنۍ کې څه چاره کوي ـ

(۸)

میلمستون ډیر تنګ دهلیز درلود ـ اصلي میلمستون دوه دروازې درلودې ـ دوتلو په وخت کې ښی لاس دروازه به هر وخت بنده وه ـ هلته به دمیلمستون میلمه پالي کسان کښېته پورته کیدل ـ خو موږ میلمانه به کیڼې خواته تاویدلو اودکلا انګړ ته به داخلیدلو ـ زموږ دهلیز کې درې پوړه وو ـ چې زموږ کوټه په لاندې پوړ کې واقع وه ـ

له ننوتلو وروسته موږ په څلورمه کوټه کې اړولي وو ـ دواړو خواو ته کوچنۍ کوټې وې ـ اصلا خو دا هر ه کوټه دیوه کس له پاره جوړه شوې وه خو په میلمستون کې دبیروبار اوپه بهر کې دموسم دخرابیدو له امله په کې ګڼ میلمانه ځای پر ځای شوي وو-

زموږ کوټه هم دوه په دوه کې جوړه وه اوځنډې ته یې تشناب وو خو تشناب لا جوړ نه وو هسی خاورې ډبرې پکې پرتې وې ـ موږ درې اوکله څلور تنه په یوه کوټه کې ځای په ځای شوي وو ـ زموږ توشکونه به سره خوا په خوا لګیدل ـچا دګیلي اوشکایت خوله هم نه درلوده ـ دکوټې



www.sikaraam.com

چت یوازې نقطه وه چې سترګې به مې پرې نښتې وې ـ ځکه چې هر وخت چې به ستوني ستاغ ځملاستم نو سترګې به مې په چت ولګيدلې اوبیا به بنه شیبه فکرونو اوسوچونو په سر واخیستم ـ ـ کله نا کله سرى دتیرو یادونو اوخاطرو دتداعي نه هم خوند اخلي ـ يووار يې دلومړيو ورځو یادونه راتازه کړل چې څرنګه قدرت الله په دروازه ووت اوبیا ـ ـ ـ --

(۹)

په هغه سهار چې قدرت الله له کوټې ووت ، نو داستاد ایاز ځیر ځیر کتلو سره مې هم ذهن مشغول دى ـ په لومړي سر کې زما هغه ته فکر نه وو ، خو چې کله به رایاد شو فکر به مې کاوه چې خداى مه که ما بې ادبي نه وي کړې ـ هغه شیبه مې په ذهن کې را وټوکیدله چې سر یې را نږدې کړ اوپه ورور اواز یې وویل :

الکه ته امین الله نه يې ؟

-هو صیب یم ـما ځواب ورکړ ـ

اوته هم استاد ایاز یې ؟



www.sikaraam.com

ـيم خو چاته غړ غوړ مه کوه ـ ورو وپسيد اوبيا يې دحال احوال پوښتنه وکړه ـ ما ورته خپل حال تير کړلو ـ زما زوی ناروغه وو په شرې ناجوړه وو سخت لړزيده ـ تيره شپه مې تر سهاره پورې په ويښه تيره کړه ـميرمنې په سهار باندې ټينګار کاوه چې ارومرو له بازاره دزاړه غوايي هډوکې راوړه ـ چې هلک ته يې وجوشوو اوښوروا يې ورکړو چې شرى پرې را وخيژي ـ

استاد اياز موسکی شو ـاودکنايي په توګه يې وويل : ((اوس زوړ غوايي له کومه شو ـ دا خولا اوس سخوندر شوی دی ، اوپه مستۍ کې دی ـ ))
او بيا يې خپله کيسه وکړه :

يو نيم کال دمخه مې واده وکړ ـ په کابل کې اوسيدم ـ بيا جلال اباد ته کډه شوم ـ دشپږو مياشتو يو ماشوم زوی لرم ـ نوی يې خندا ته خوله جوړوله ـ ډير مې ساعت ورسره تير وو ـ بوډۍ مور مې هم له ماسره وه ـ هغه سخته ناروغه وه ـ نفس تنګي يې درلوده ـ شپه اوورځ په کټ کې پرته وه اوس نه پوهيږم چې زما له مسافرۍ به خبره وي اوکه نه ؟ که خبره شي زړه به يې وچوي ـ

بيا يې دخپل مشر ورور کيسه وکړه ـ هغه له دوه مياشتو راهيسې ترى تم دى ـ يو سهار يې ميرمن له غزني څخه په يخنۍ کې پښې ابلې په کور



www.sikaraam.com

راننوته۔ لکه لیونی داسې وه ـ راته را غاړې وتله ـ په هق هق یې وژړل ـ اوزما دورور یې وویل : هغه یې په توره شپه له کوره وویست ـ دکلوشو دپښنو کولو وخت یې هم ورنه کړ ـ یوازې یو وظیفات (پنجسوره )یې په جیب کې کیښوده اوترننه یې درک مالوم نه دی ـ

اصلي خبره داهم وه چې ایاز استاد په ښوونځي کې زما ښوونکی وو ـ په درس اونوټ ورکولو کې ډیر جدي سړی وو ـ ځینو زده کوونکو چې به له پښتو سره جوړ نه ول نو ویل به یې چې استاد له پښتو نه الجبر جوړ کړې دی ـخو هغه هڅه کوله چې ټول زده کوونکي پښتو ښه ولولي اوښې خبرې پرې وکړي ـ

په هغه ورځ له لسو کالو وروسته دخپل پخواني ښوونکي سره وپسیدم ـ اوډیره دزړه خواله مو وکړه ـ هغه هم دښوونځي ددورې مینه اوعلاقمندي وښوده ـ اوما هم خپل درناوی ـ له غرمي وروسته دکوټې کونج ته شو ویل یې زه تیم وهم اولمونځ کوم ، په ځادر یې تیم وواهه اوبیایي دکوټې په کنج کې دسر په اشاره لمونځ ادا کړ ـ اودسلام دګرځولو په مهال میلمه پال په دروازه کې ودرید غږ یې وکړ : ایاز څوک دی ؟

هغه ورو وویل: صیب -----زه ---زه یم ـ



www.sikaraam.com

-راپاخه چې ځو ؟

-ښه صيب يوه دقيقه !

-هله ژر شه چې موټر تيار دی ـاياز هم ووت په دروازه کې ي په وتلو سره دسر په اشاره خدای پاماني وکړه اوبيا ووت ـ -- ـ خوکله چې زه دې لوی ميلمستون اوبرجورې کلا ته راغلم ـ ډيرمې اخوا دې خوا سترګی واړولې خو اياز مې هم ونه ليده ـ

(١٠)

دکابل په لويديزه خنډه کې مهتاب کلا ته نږدې دکلا ی ناظر په کلي کې ونو اوباغونو نوې غوټۍ کړې وې ـ دالوبالو اوزردالوو نو ګلان ايستلي وو ـدکورونو په انګړونو اويا باغونو کې به دغه راز ګل لرونکې ونې لکه ناوې بريښنيدلي ـ دپسرلي هوا لګيدلي وه ـ سهار مهال به دپټيو په پوله دپرتې پرخې له امله څوک نه شول تيريدلی ، ځکه چې دشپې په مهال به دومره پرخه پرته وه چې پايڅې به يې لندې خيښنتې کولې ـ دکلا ګانو اوکلي په مخ کې خواوشا پټې هم ښه شنه ولاړ وو ، واوره ترې الوتې وه ـله لمر راختو نه تر لسو بجو پورې به پرخه الوتې وه خو دپولو پر سر به زيمونو



www.sikaraam.com

لارې کړې وې ـ هوا به لکه چې چا په اوبو منځلې وي ـ ښکلې اوصافه به چليده ـ

يو سهار چې لا دې برجورې کلا ته نه ووم راغلي اودميلمستوب مزه مې نه وه څښلې ـ دچای له څښلو وروسته له کوره دکار په لور ووتم ـ چې سړک ته رانږدې شوم نو زما ګاونډی عبدالرحمان ولاړ وو ـ هغه په رسمي عسکري يونيفورم کې وو اودموټر انتظار يې کاوه ـ زه هم ښاري بس ته منتظر ووم ـ هغه اشاره وکړه چې دې خوا راشه اونن له ما سره ولاړ شه ـ

ماويل : څوک په قهر نه شي ، دا خو دافسرانو ګاډی دی ـ

هغه وويل : پروا مه کوه ـ ((اين امانت چند روز نزدماست درحقيقت مالک هر شی خداست ـ ))

-له هغه سره په يوه څوکۍ کښيناستم ـ دکښته کيدو په مهال يې همدومره وويل مازديګر به ووينو ـ زه ترې کار ته ولاړم ـ په دفتر اوکار ځای کې ټوله ورځ دعبدالرحمان خبرو اونيولي اکر په چرت کې اچولي ووم ـ

عبدالرحمان يو مسلکي اودلوړو زده کړو والا افسر وو ـپه شوروي اتحاد کې يې په زرهدارو کې زده کړه کړې وه ـ دپروان ولايت اوسيدونکی



www.sikaraam.com

وو ـ روښانه اوزیرکه افسر وو- یو وخت زما یو خپل وان له هغه سره سرتیری وو هغه محال دی بریدمن وو په قلعه جنګي کې یې دنده درلوده ـ هغه یې ماته ډیرې کیسې کړې وې ـ خو دا محال چې زما ګاونډی اودوست وو تل مازدیګر به دکلي مخې ته دیولې پر سر کښیناستلو اودچا خبره خپله درنه به مو ویله ـ هغه تړوله ورځ مې فکر له عبدالرحمان سره وو ـ دهغه داندیښنو په باب اودهغه دنیولې اګر په باب ـ

مازدیګر چې کورته راغلم دکالیو له بدلولو وروسته ستوني ستاغ په کټ کې څملاستم ـ لږه شیبه وروسته دروازه ټک ټک شوه مابنام تروږمی لګیدلې وه ـ دحوت دمیاشتې سوړ کابلی باد لګیده ـ دیغمان له لورې سړه هوا دکابل په لویدیزه څنډه را پلنیده ـ په انګړ کې دننه اوله انګړ باندې له بهر نه دونو په څانګو اوخمبو کې دمرغانو کړهار خاته ـ دروازې ته ورغلم ، خدای خبر چې څوک به وي ؟ـ په همدې چرتونو کې ووم ، دروازه مې بیرته کړه ،یو دنګ سړی چې خوله یې پر سر نه وه اوسپینه نورستانی چکمنه یې په اوږو پرته وه دروازې ته ولاړ وو ـ غږیې وکړ ـ ته راغلې یې ؟

-هو نیم ساعت له مخه راغلم ـ



www.sikaraam.com

- زه همدا سات راغلم اوله دریشي بدلولو وروسته مې غوښتل چې تا وګورم
-

دواړه ننوتولو ـ کور والا لا دمخه تورچای دم کړی وو ـ عبدالرحمان ته مې پیاله راواخیسته ـ ګوره مې هم ورته وړه کړه ـ اوپه مخ کې مې کیښوده ـ دچایو پیاله یې پورته اویو ګوټ یې وکړ ـ پیاله یې بیرته په پتنوس کې کیښوده ـ ترې ومې پوښتل ولې دنورو ورځو په څیر نمبر دارې اوبې نمرې ټوکې نه کوي ـ  دا خبره زموږ ترمنځ یو شفر وو ، موږ به هر وخت تکراري فکاهیاتو (ټوکو ) ته نمره لرونکي اونویو اوتازه وو ته بې نمرې ټوکې ویلې ـخو هغه غاړه صافه کړه وې ویل :

هسې مې چرت خراب دی ـ فکر کوم زه درنه ولاړ شم ـ

-چرته ؟ ماتري وپوښتل ـ

- نن څوتنه افسران چې زما همکاران وو نه وو راغلي داسې ګنګوسه وه چې هغوی بیګا نیول شوي و ـ ـ ـ ـله مانه هم اوس درک اوخرک ورک دی ـ نه پوهیږم څه وکړم ؟ شمالي ته ولاړ شم اوکه همدلته پاتې شم ـ هر چه بادا باد ـ خو کور چاته پریږدم ؟ـ واړه ماشومان ، نجوني اوکور ـ- اونور ،،،،،

زه هم چوپ شوم ـ دچایو غړپ مې په ستوني کې ونښت ـ له دوه درې تېوخو وروسته مې بیرته حوصله برابره کړه ـ ومې ویل : فکر نه کوم ـ، تا چاته څه ویلي دي ـ خو هغه وویل :

مه لیونی کیږه ـ خبره همدلته ده چې ما چاته زیان نه دی رسولي اوافسر یم خو دچا جاسوسي هم نه شم کولي ـ زه چوپ شوم ـ له مانه هم لاره ورکه ده ـ اودخپل ځان په باب چرت واخیستم ـ دده خو ورونه اوتربرونه شته ـ وریرونه یې هم شته ـ که ماته لاس راواچوي زه به خپله بودۍ مور چاته پریږدم ؟

خو زه لا په دې فکرونو کې ووم ـ چې هغه بیا وویل :

زه نه تښتم ـ تیښته مې بدې ایسي ، همدلته یم خو که چیرې نه وم اوتللی ووم کله ناکله زما دچو پوښتنه کوه ـ

هغه دچایو له پیالې وروستۍ غړپ وکړ پاڅید اوتر دروازې مې په سکوت سره بدرگه کړ ـ مخونه مو سره ورکړل خدای پاماني مووکړه فکر مې نه کاوه چې دا به زما اودعبدالرحمان وروستۍ خدای پاماني وي ـ

(۱۱)



www.sikaraam.com

په تنګه بنګه کوټه کې ستونې ستاغ پروت ووم چې زموږ دکوچنۍ کوټې دروازه ټک تک شو ه ـ زموږ کوټې دنګه دروازه درلوده ـ ددروازې په پورتنۍ برخه کې یوه هنداره هم وه داسې چې ولاړ سړي کولای شول چې دبهر دهلیز یوه برخه دښیښه یې کړکۍ له لارې ووینې ـ معمول داوو چې دډوډۍ وخت به شو نو غږیه کیده ـ دکوټې نه به یو تن وتلو اودنورو څلور کسو ډوډۍ به یې راوړله ـ میلمه پال به پوښتنه کوله تاسې څو کسه یاست ؟ خو کله چې به زما وار وو نو مابه ویل یو دوه درې زه یې څلور اوبیا هم زه پنځم ـ هغه به وویل نوته دوه تنه یې ؟ مابه ویل هو کنه نه وینې چې یو زه یم اوبیاهم یو زه یم ـ بیا به حیران شو ؟

ما به ورته وویل : مه حیرانیږه ـ زه ځان ځکه په دوه تنو حسابوم چې ددوه کسوکارونه کولی شم ـ بیا به میلمه پال مسکی شو نور به یې غږ ونه کړ، اوډوډۍ به یې واچوله ـ په کاسه کې به دچا خبره کچالانو سرې ته رډې رډې کتل ـ ښوروا به څپې وهلې ـ اودزړو پاکستانې میښو اوزړو پاکستانې غوایانو غوښې به لکه اوبتل داسې خوځیدې ـ بیا به ورته کښیناستو ـ ښه په خوند به مو وخوړله ـ خو دسهار چا ی به څه بل شان وو ، څلور واړه به په یو دسترخوان کښیناستو ـ خو زموږ یوه تن ته به له کوره هم شیان راتلل کله ناکله به یې کلچې اوروټونه هم مخې ته کیښودل خو موږ نورو ته به یې ست سلا نه کوله ـ هغه به کلچې په



www.sikaraam.com

خاص انداز خوړلې ، داسې چې لاندی اوپاسنی شونډې به یې په کلچې نه نښتلې ـ له چایو وروسته به عمر جان دسیلو ډوډی راواخیستله ـ اوبیا به یې ماته ویل ـ گوره دکابل نجونې چې کلچې خورې نو ددې له پاره چې لب سیرین یې خراب نه شي نو داسې یې خوري ـ په دې ډول به یې داسلم پیښې کولې ـ دعمر په پیښواوتمثیل به اسلم سور اوشین شو ـ اوله ځانه سره به وغوریده ـ دعمر له ټوکو وروسته به په کوټه کې بیا چوپتیا حاکمه شوه غبر غوبر به نه وو ترهغې چې وخت به شو اوانگړ ته به وتلو ـ

په میلمستون کې داسې ټوکې اوله دې بدترې ټوکې نورې هم ډیرې وې ـ یوه ورځ چې کله کوټې ته ورننوتم نو عمر جان را ته په خنداوویل : راشه دبلي دې خبر کړم ماویل څه خبره ده ؟

هغه وویل دمیلمستون په هاغه مخامخ کوټه کې عبدالرب اوطاهر شاه پیژنې ؟ ما ویل هو پیژنم یې !په دهلیز کې کښته پورته کیږي سلام علیک کوو سره ـ هغه ویل :

اغه دکابلیانو خبره ده چې وایي (( به کته گي ما غره نه شو ما بسیار بیغیرت استم ـ ))



www.sikaraam.com

ماويل دا څه مانا لري ؟

هغه ويل دغه يارانو نن په يوه هګۍ جنګ کړی دی ـ مانا داچې کله چې عبدالرب بهر قدم وهلو ته تللې وو نو طاهر شاه دهغه يوه جوش کړی هګۍ خوړلې وه ـ نو په دې خبره ددواړو دخولې خوند خراب شو ـ ما په ټوکو وويل : په لويانو کې هم ماشومان پيدا کيږي ـ هغه وويل : هو کنه ، دماشومانو شي ته به لاس نه وروړې ـ کنه نو بيا به تا وخوري ـ مو بړلا په دې خبرو کې وو چې کامل خان کاکا غاړه صافه کړه اودروازه يې ټک ټک کړه ـ

(۱۲)

که دلومړي ميلمستون شيبې دويرې اوډار شيبې وي ـ داويره دهر چا اوهر ميلمه په ستونې لکه خپسه ناسته وه اودهر يو هـ په اوږو او مغزويې فشار راووړ ـ نوي نوي کسان راتلل ـ هلته تګ راتګ ډير ګړندی وو ـ دوه دوه درې درې تنه راتلل اوبيرته به تلل ـ دراتلونکو به هم رنګونه زيړ زبيښلي وو ـ اوهغوې چې به وتل هم نه به پوهيدل چې چيرته ځي ـ



www.sikaraam.com

يو سهار دچایو دښنلو نه وروسته يو نوم واخیستل شو ـ امین الله ولد عظیم الله څوک دی ؟ ما لاس پورته کړ ـ هغه وویل ستا دپلار نوم عظیم الله دی ؟

زما خوله بنده شوه ـ دنه ، سر مې وخوځاوه ـ

ستا دپلار نوم څه دی ؟

عزیزالله !

-ته په خپل ځای کښنینه !ته مې لا په کار نه يې ـ څو وارې يې دامین الله ولد عظیم الله نوم واخیست خو چا ځواب ورنه کړ ـ میلمه پال ووت ـ يوه ورځ دمخه يي زه بلې کوټې ته بیولي ووم ـ هلته ـ يې په څوکۍ يوازې کښنینولم ـ اوهغه شیبه مې په ذهن کې غزوونې وکړې چې کله (( کس له ما نه ووت ـ زه يې يوازې پریښنودلم ـ-- -په خوا کې دبلې کوټې څخه سختې چیغې اوکړیکې پورته وي ـ دربهار اوریدل کیدلو داسې لکه چې څوک دجوارو وړي ټکوي -له درب څخه وروسته به سخت فریاداوزګیروی پورته شو ـ په درنګ شیبه کې فکر کوم چې زما په مخ کې يو سړې ناست دی ان لکه زه زما په عمر خو لږ څه دپاخه عمر ـ هغه پوښتني کوي ـ پرون چیرته وي ؟



www.sikaraam.com

پرون په دفتر کې ووم ـ

او ابله ورځ چې له دفتر څخه راووتلې څوک درسره ملګری وو؟

هغه زما ملګری وو خان اباد استاد وو.

کورته دې څه ورل غوښتل ؟

غوښتل مې کورته دغوايي هډوکي يوسم .

-دغوايي هډوکي ؟ کوم غوايي هډوکي ـ دقلبه يي غوايي ـ دهغه غوايي چې په ښکرونو يې ځمکه ولاړه ده ـ اودادی اوس شخوند وهي خوځيږي اوځمکه هم خوځوی .

نه دقصاب په دوکان کې دحلال شوي غوايي هډوکي ؟ نو دلته ورپسې راغلې ؟

نه خو په قصاب خانه کې مې پلټلو ـ ګوره دلته هم يوغوايي شته ـ هغه ، هغه هسپانوي غوايي ته ورته دی چې سره ټوټه وګوري نو ورپسې منډې وهي اودسرې ټوټې خاوند په ښکرونو کې اخلي اوبيا يي په ځمکه ولي ـ دا دهاغه غوايي ورور دی چې ځمکه يې په ښکرونو ولاړه ده ـ دځمکې والا غوابې چې ښکر وخوځوی نو زلزله راشي اوچې زلزله راشي نو بيا



www.sikaraam.com

وهلکونی غواړي په مستۍ شي اوهر څوک چې په مخه ورشي نو په ښکرونو کې یې نیسي ، وګوره ابله کوته کې یو غواړي یو سړی رانیولی دی په ښکرونو کې یې جګ کړی اوپه دې ځمکه یې ولي - ))

ورو اصلي پوښتونکې په دروازه راننوت ، مخکیني سړی لکه دسوري په څیر په کرار کرار له سترګو پناه کیده اولیرې کیده ترهغې چې پوښتونکې کاغذونه مخې ته را ته کیښودل - وی ویل :

دا فورمه ډکه کړه : څه شیان غلط ونه لیکې سم اوسیده کار کوه کنه نو قایل شاه خان ( ! ) ته بیا غږ کوم چې اوه اسمانونه اواوه طبقې ځمکه درته په مخ کې کیږدي -

ما ویل سمه ده -

هغه جګ اوپلن سړی وو- ډبل بریتونه یې په مخ کې داسې بریښیدل لکه سپی چې دوزی پښه په خوله کې ونیسي - خو هغه یې کوله چې دوحشت اودهشت له لارې هر څه اجرا کړي - ما فورمه ډکه کړه په درنګ شیبه کې مې خلاصه کړه راته وی ویل : زه اوس دې کوټې ته ولاړ شه بیا به دې راوغواړم -



www.sikaraam.com

زه له ځایه پورته شوم ـ سترګو می تور وخوړ ـ دبلې کوټې چیغو ، خپلو سوچونو ، اودپوښتونکي دمکو راته په تن ویښته رانیغ کړل ـ له دروازې را ووتلم ـ مخکینی سیوری بیا راسره مل شو ـ ((ودې لیده : که دغوایي هډوکي اخلي ـ خو همدلته یې واخله ـ همدلته قصاب خانه ده ـ دا ښه قصاب دی ـ خو د غوایي هډوکي نه لري اونه یې غواړي چې حلال یې کړي ـ بلکې دوی پرې مستي کوي که دچا په لاس کې سره تکه وویني نو بیا دهغه پسې منډې وهي ـ اوهغه په خپلو ښکرونو کې را پورته کوي ـ لاړ شه اوکوټې ته ننوزه دکوټې دیوالونو ته ګوره چې څنګه ولاړ دي ؟ بیا دې نورو خلکو ته وګوره چې څه کوي اودڅه په هکله فکر کوي ،اوبیا ځان په هغو کې ورک کړه ـ اوبیا اوبیا ـــــ))

دهمدې لاړښوونو په جریان کې خپلې بسترې اوځاې ته ورسیدم ـ سکوت په کوټه حاکم وو ـ ما فکر کولو چې ګوندې دکوټې چت ورو ورو راکوزیږي ـ سترګو مې هر یو دوه دوه کسه لیدل ـ زړه مې درزا کوله ـ دخلکو اومیلمنو سربیره مې سترګو نور تصویرونه هم لیدل ـ چې ټول ما ته ګوري ـ شیبه په شیبه مې سترګو تور خوړ ـ په تن مې مړې خولې احساس کړې ـ کوټې هم خپله رڼا له لاسه ورکوله ـ نه پوهیدم کوم ځای کې یم ـ کرار کرار مې ځان ته تکان ورکړ ـ سترګې مې پټې کړې ـ



www.sikaraam.com

((دميرمنې غړونو مې په غوړونو کې بيا بنګاری پيل کړ- ګوره چې دزاړه غواړې هډوکي دې هير نه شي - ارو مرو يې راوړه - دماشوم دا دريمه ورځ ده چې تبې نيولی دی - اوشری پرې نه راخيژي - دشپې له خوا ډير لالچ کوي - اوبيا په ټينګار سره وايي - ګوره چې هير دې نه شي - ته چې په کتاب پريووزې نو هر څه درنه هير شي - خو زه وايم -

نو زما به څنګه هير شي ؟ ماته دهيريدو نه دي - ارومرو چې راوړم يې - بيا سم دم دقصابۍ دوکان ته ورځم - هلته چې پسونه وزې ، غوايي اوميښې ځوړندې دي - سترګې اړوم چې غواړې پيدا کړم -

قصاب کاکا !ورته غږ کوم !

هغه زما غږنه اوري ، جګ دنګ سړی دی ، اوږده بريتونه يې دواړو خوا و ته را ځوړند دي - ساطول يې په لاس کی دی - پيش قبضې اوچړې يی دملا په پټۍ کې ځوړندې دي - ديوې ميښې په ټوټه کولو لګيا دی -

بيا خوله را جوړوم : کاکا دغوايي هډوکي لري ؟

-څه غواړې ؟ په هډوکو څه کوي ؟ ولې ته هډوکي نه لري - که خپل هډوکي دې ماتوې نو همدلته په دې کونده کينه چې په يو ګوزار دې کسکر کسکر کړم -



www.sikaraam.com

-نه کاکا زما زوی ناروغه دی ، دکلي یوې زړې میرمنې می کورودانې  ته ویلي دي چې دزاړه غوایي دهډوکو ښورروا ماشوم ته ورکړه چی شرې پرې ژررا وخیژي -

-صبر وکه چې لاس مې وزګار شي - اوبیا یې هم چاړه راوویسته ، ساطول یې کیښود دمیښې ورون یې دهغې له تنه جلا کړ- ټاق یې وکړ - ما هم ټکان وخوړ اوله سوچونو را ویښ شوم -)) خو اکې پروت ملګرې مقصود وخوځولم - - چرت مه وهه ، ، دغیرت اوښې غیرتی دجرءت اوبې زړه توب ترمنځ پرده ډیره نازکه ده - انسان په یوه شیبه پیدا وپه یوه پناه دی - هر چه باداباد- له پیښې تیښته نشته -

(١٣)

بیګاه شپه ترنیمې اوښتې وه - خوب نه راتلو - دعبدالرحمان خان خبرو دفکرونو په سمندر کې لاهو کړی ووم - دهغه همدا خبره مې په غوږونو کې تاویده چې ویل یې: (( زه چیرته نه ځم - کوم خواته وتښتم - خپل اولادونه چا ته پریږدم - ))دسباوون په لګیدو سره لویه دروازه ټک ټک شوه زه پاڅیدم چې دروازه بیرته کړم - میرمن مې پرې نښودم ویل یې زه خپله ځم - هغه ترمخه شوه زه هم پښې ابلی له کوټې راووتم -بیا یې مخ راواړاوه - ویل یې ننوزه اوله ماشوم سره کښینه - زه ستون شوم هغه



www.sikaraam.com

دروازې ته ولاړه دروازه یې بیرته کړه ـ گوري چې صفیه ولاړه ده ـ صفيي په سورو سورو ژړل اوسلگۍ یې وهلې ـ هغه د۱۴ یا ۱۵ کالو نجلۍ وه ښونځي ته تلله ـ پلار یې ډیره نازوله اوریدلي مې وو چې دپلار دکور ټول واک ددې په لاس کې وو هغې وویل :

بیگاه مې د پلار ملا خوږیدله ـ سخت تبې نیولی وو نیمه شپه کسان راغلل هغه ځان پټ نه شوکړای ـ مور مې ټیکرې ورته ونیو چې په بلې دگاونډې کورته واوړه ـ هغه وویل زه به بیا تاته په کومو سترگو گورم ـچې له غلو ځان پټ کړم ـ

هغه په چپلکو کې چې سپینه چکمنه یې په اوږو پرته وه دروازې ته ورغی خو بیا یې پرې نه ښود چې کوټې ته راوگرځي له هماغه ځایه یې له ځانه سره بوتلو ـ موږ تر سهاره خوب ونه کړ ـ اوس تاسو کره راغلم چې موږ یې له پلاره بې برخې کړو ـ پلار یې راته یو وړ ـ اوبیا نجلۍ په سلگو سره له کوره ستنه شوه ـ

(۱۴)



www.sikaraam.com

دمازدیگر درې بجې وې دمنې لمر په غر غړو و چې کامل خان کاکا دتل په څیر په دروازه راننوت ـ اوسم دواره یې وویل : الکو بهر انګړ ته نه ووځئ ؟

-

ا ویل ولې نه ؟ موږ تاته منتظر وو ـ

-

ه خو دادی راغلم ـ ما دماسپښین لمونځ وکړ اوبیا مې یوه سترګه خوب وکړ ـ بیا نو دعادت له مخې را پاڅیدم چې سره قدم وهو ـ

-

کامل خان په سترګو کې خوب له ورایه مالومیده په ببرو وروځو بونډې ږیرې اوسپینو کالیو کې چې په لاس تسبیح به یې همیشه تسپې اړولې له هغه یو مرتاض جوړ کړی وو۔

-

عمر جان په ټوکو وویل : کامل کاکا له دې تسپو سره څه وایې ؟



www.sikaraam.com

-

غه په ځواب کې وویل : پسې مه ګرځه ـ دخدای نوم یادوم ـ نوربه څه
ووایم -

-

وګوره کاکا چې کله مازدیګر شي ته سپین کالي واغوندې دا څه خبره ده
اوڅه راز په کې دی ؟

-

ه دې کې یو راز دی ـ اوزه دا راز چاته نه وایم ـ

-

ا وویل : نو ماته یې هم نه وایې ؟

-

ادویلو نه دی ـ زه نه غواړم نور هم په دې راز پوه شي ، تاسو یوازې هغه
وخت په دې راز پوهیدای شئ چې زه له تاسو سره نه ووم ـ هغه ژر
خپله خبره بدله کړه ویل یې هلکو ځئ دمازدیګر لمونځ به هم بهر وکړو ـ



www.sikaraam.com

-

ئ چې ځو موږ درې واړه پاڅیدو ـ صمد لا په خوب ویده وو خرهار یې کاوه ـ اسلم خو بې له هغې هم موږ ته برندې برندې کتلې نه یې له چا سره جوړ په خیر کول اونه یې دسهار دچایو په محال دکلچو ست سلا کوله ـ خو په هر څه کې یې برندې برندې کتل ـ خو عمر جان به دهغه قهر نور هم راپاراوه ـ اوچې کله ناکله به یې دنجونو دکلچو خوړلو پیښې کولې چې لب سیرین یې خراب نه شي نو په اسلم به اور لګیده اوله ځانه سره به یې غوم غوم پیل کړ ـ

(( افسوس ـ ـ که دراینجا نه می شه اگر نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ))

یوه ورځ خو پرې عمر راودانګل ـ چرا نه میشه دست ات تا لندن ازاد څه چې بهر ووځو ـ ـ ـ ـ

خو بیا به هم زه په منځ کې شوم اوددواړو دګوتو اچولو مخه به مې ونیوله ـ

عمر جان دننګرهار ولایت یو لایق افسر وو ـ کماندویې زده کړې یې په هند کې کړې وې ـ وچ اونرې احساساتې ځوان وو ـ په هر څه کې به په خپل خبره ټینګ ودریده ـ په سپین اوښکلي څیره کې یې وړو اولنډو مګسې بریتونو دامانیه دورې ځوان افغان ذهن کې ژوندي کاوه ـ



www.sikaraam.com

میاشتې میاشتې شوې وې چې هغه په دې میلمستون کې دیره وو ـدکور اوکورنۍ په هکله یې هیڅ خبر نه درلود اودکورنۍ اودماشومانو داستان خو یې هم ډیر دردوونکی اوځورونکی و چې یوه ورځ یې ماته وکړ ـ

(١۵)

ځینې وخت چې چاته ووایې چې چرت مه وهه ، لکه چې دفکرونو اوسوچونو تارونه ورته په لاس کې ورکړې اوقصدې ورته ووایې چې همدا دې دچرت وهلو وخت دی ـدمقصود خبرو هغه محال هم پر ما داسې کانه وکړه ـ داخبره یوه ورځ زما دوست اوخوږ ملګرې استاد خان هم کړې وه ـ یوه ورځ له دفتر څخه دراوتلو تر مخه استاد خان ماته تیلفون وکړ چې نن غرمه راګوز شه چې په پښتون کافې کې چای وڅښو ـ !ما هم ورسره ومنله ـ په سبایې په ټاکلې وخت دوزارت په مخکې ولاړ ووم چې استاد خان مې دشاه له خوا په اوږه لاس کیښود ـ مخ مې واړاوه او روغبړ مو سره وکړ ـ ورته ټینګ شوم چې دفتر ته ولاړ شو ـ هغه وویل : وعده خو داوه چې یوې کافې یا رستورانت ته ولاړ شو اوچای وڅښو ، ماویل سمه ده ـ درځه چې ځو !



www.sikaraam.com

هغه وخت چې لا زه دې میلمستون ته نه ووم راغلی اوپه کابل کې مې نوی په کار پیل کړی وو۔ زما دسترګو په وړاندېدې دکابل دښار څېره هم بدلیدله ۔ خوښۍ اوخوشالیو کوچ کاوه ۔ ویره اوترهه زیاتیده ، خلکو اویارانو به چې سره یو ځای شول ټوکې اوملنډې به یې کولې ۔ هغه وخت هم دکابل په ښاروال ملنډې وهل کیدلې ۔ که کوم څوک به له کوره نادرکه شو ، اویا به نه مالومیده نو یارانو به ویل ۔ بیګاه لکه چې بیا دښاروال صیب شمشیر کار نه دی کړی چې اعصاب یې خراب شوي دي ۔ خان استاد هم په دې ټیل ماټیل کې لا درکه شو اوبیا یې مړی ژوندی مالوم نه شو ۔ هغه شیبه څو څوواري په ذهن کې رادبره کیږي اوبیا لوېږي ۔ هغه ډېر خودداره اوپه خپل کار مین اوعاشق سړی وو۔ کیسه یې کوله اودهغه کیسه مې تل په ذهن کې یو دردوونکی اغیز ښندي :

(( زه ماشوم ووم ۔ کاکا مې په شاه باندې له شمالي وزیرستان نه کابل ته راوړم ۔ ما ښوونځی نه پیژانده ۔ په لیلیه ښوونځکې یې شامل کړم ۔ ماشوم ووم دډوډۍ په وخت به زه میز ته نه شوم رسیدلی ۔ موږ څو تنه ماشومانو ته یې ډېر ټیټ میزونه جوړ کړي وو۔ ما پلار اومور نه دي لیدلي ۔ هغوی لا دمخه مړه شوي وو۔ کاکا مې کیسه کوله چې هغه یوه تربور وویشت ۔ ما خور اوورور هم نه درلودل ۔ کاکا مې راسره څو



www.sikaraam.com

ورځې په خوشالخان ليسه کې تيري کړي ـ اوهغه بيا بيرته کلي ته ولاړ ـ اوتر ډيرو کلونو مې بيا ونه ليد ـ زه په کابل ښار کې نابلده ووم ـ کابل ښار ماته دافسانو اوکيسو ښار وو- زه په کې رالوي شوم ـ ښوونځی مې په کې پای ته ورساوه ـ اوبيا پوهنتون کې شامل شوم ـ ))

دخان استاد له نامه سره به تل ماته دعذاب اوربښتنولۍ داستان مجسم کيده ـ هغه دمور اوپلار مينه نه وه ليدلې ـ خو دخپلو يارانو سره ډير مينه ناک اوسپيڅلي وو ـ چې کله به موپه تيليفون کې هم خبري وکړې نو سم دواره به ماته دهغه ماشومتوب دپلار له مينې محروم کيدل دمور نه ليدل اوبيا په ماشوم توب کې دکابل په يوه ليليه ښونځي کې زده کړل به راته مجسمه شوه.

(( تره مې ډير مهربانه سړی وو ـ کله ناکله به چې نور زده کوونکې کلي ته ولاړل ، نو ماته به يې دغمو نينې اوځينې نور شيان راليږل ـ اوس دا څو کاله کيږي چې خبر ترې نه يم ـ يو وار خبر شوم چې هغه کراچۍ ته تللی دی ـ اوهلته مزدوري کوي ))ـ بيا به يې وويل : (( ياره که زه دا وار پيسې پيدا کړم خوارومرو يواور وزيرستان ته ورځم اودتره پوښتنه مې کوم ـ اودپيسو مرسته هم ورسره کوم ـ )) بيا به غلی شو ـ اوښکې به يې په



www.sikaraam.com

سترګو کې تاو شوي ـ دافسوس اوحسرت یوه څپه به يې پر مخ راغله اوله خولې به يې يو سوړ اسويلي وکيښ))

خو هغه ورځ دحوت دمياشتې وروستۍ شپې ورځې وې ـ لمر ځو نيزې دکابل په اسمايي اوشيردروازې راکښته وو ـ غرمه مهال وه ـ دښار ګڼه ګوڼه زياته وه ، دموټرو غرهار اودبايسکلونو شرنګهار کې دواړه روان وو اوددوکانونو پر مخ دباغ عمومې پل په ساحه کې يوې کافې ته ننوتو ـ ميزونه يې تک تور اوښتې وو مچانو په کې غومبر واهه ـ درستورانت دپيتاوې يا سرک په لور ميزونه ټول ډک وو ـ رستوران والا غږ وکړ : ((نان يا چاى)) اوبيا يي ورسره دخپل عادت له مخې دمينو ټول لست لکه قابلي پلو چلو منتو اشک اونور دمنتر په څير ولوست ـــ ـ

ما وويل : دوه تور چاى ـ

دو چاى سياه ، نقل يا بې نقل ــ

هلته موچاى وڅښلو اوبيا سره جلا شولو ـ

له هغه ډيره موده تيره شوه ـ بيا موسره ونه ليدل دومره خبر شوم چې ددرس پر مهال له درسې خوني وويستل شو اوپه موټر کې واچول شو ـ اوبيا يې درک ونه لګيد:



www.sikaraam.com

خو هر وخت چې مې هغه په یاد راشي سم دواره مې ورسره وروستي لیده کاته هم په ذهن کې راژوندي شي :

(( زما دنامزادی مراسم په ساده توګه ترسره شول یوازې زما دچنغولې پلار مور اوخویندې ورونه په کې ناست وو اودسمال یې راکړ ـ زما خو بې له هغې هم څوک نه وو ـ ((الله هم پاک اومسواک یې هم پاک ))

اباد بنکلی اوخبر لوخ اودپراخ ذهن خاوند و هر کله به یې دمتحجرو اذهانو نه نفرت څرګندولو ـ دپښتو ژبې له تکړه ښوونکو اولیکوالو څخه وو ـ دپښتو کلاسیکانو زیات شعرونه یې په یادو یادوو ـ سره له دې چې هغه هیڅوک نه درلودل اونه یې هم کومه شتمني اودار وندار خو دډیرې لوړې استغنا خاوند اودپښتنوالۍ په مثبتو ارزښتونو مین وو ـ په خپل قول اوژمنه ولاړ سړی وو ـ خو په کافي کې دناستې په مها ل هغه یوازې خپله اودخپلې نوې کورنۍ کیسه وکړه ـ دهغه چنغوله هم دهغه زده کوونکې محصله وه ـ ویل یې که خیر وو اوژوند باقي وو څه پیسې جمع کړم نو په اوړې کې به واده وکړم ـ )) هغه شیبه چې په خوا کې ناست څادر والا همداسې لکه کوڅه ډب سپې خپل غوږونه را بوچې کول اورانږدې کیده مخ یې نه راړاوه ـخو هڅه یې کوله چې څه شی واوري ، زه په دې راز هغه مهال هیڅ پوه نه شوم خو دچایو له څښلو وروسته کله



www.sikaraam.com

چې له کافي ووتلو استاد راته دسرې راز وويلو چې هغه څه غوښتل اودڅه له پاره زمونږ په خوا کې ناست وو.

کلونه پس مې دهغه چنغوله وليده . هغه پوهيده چې زما اوداباد ملګرتيا وه. خپل اعصاب يې له لاسه ورکړي وو. دښار په يوه ښوونځي کې ښوونکې وه . له مور اوپلار سره اوسيده . په څو ژر ژر پوښتنو يې را نه وپوښتل تا اباد ونه ليده . تا وليده ؟.هغه چيرته ولاړ ؟هغه نه راځي؟ کله راځي ؟ خو له ماسره دداسې ډيرو پوښتنو ځوابونه په ستوني کې بند پاتې و اودي ---

(۱۶)

د۱۳۵۸ کال دثور دمياشت په راښردې کيدو وه . تقريبا يوه مياشت شوې وه چې زه دې ميلمستون ته راغلی ووم . سرکاري راديو اوتلويزيون سندرو ترانو ، ميلو اواتڼونوپه سر اخيستی وو ، نورالدين هم دتورن رتبې ته ترفيع کړې وه . دنورو دوينا له مخې دايې دويمه رتبه وه چې په څو مياشتو کې يې اخيستې وه . هغه چې به دشپې مهال شو نو دميلمنو په دهليزونو به ګرزيده . ميکاروف تفنګچه به يې په لاس کې نيولې وه



www.sikaraam.com

اووروسته به ورپسې یو سرتیرې هم له کلاشینکوف سره روان وو ـ له هر میلمه به یې پوښتنه کوله : ولې دلته راغلی یې ؟

هغه به ویل : صیب بیگناه یم ـ

اوبیا به یې پرې شونډې وچیچلې اوپه بد اواز به یې ورته وویل : بیگناه دی ـبیگناه داسې وي ؟ اوبیا به یې ترې پوښتنه کوله : ووایه څومره تنخواه لرم ؟

میلمه به ویل : صیب نه پوهیږم .

-

وله دې ماته شه ، ووایه لس زره افغانۍ ـ ووایه څه پرې کوم ؟

-

یب نه پوهیږم ؟

-

رگ دې نه پوهیږم ـ بلا دې ووهه ـ دابریتونه دې راشکوم ـ اوکه چا به ږیره درلوده ـ داږیره دې راشکوم ـ اوتغر ترې جوړوم ـ

بیا به یې وویل : ووایه پنځه زره دې کور ته ورکوې .



www.sikaraam.com

هو صیب پنځه زره کورته ورکوي -

اونوري پنځه زره ؟-

- صیب نه پوهیږم -

-بلا دي ووهه - خاینه وطنفروشه - وایه پنځه زره په غ - - - -- مصرفوي
-

هو صیب پنځه زره په غ -- - - -مصرفوې -

نو دادنورالدین میلمه پال منتر وو ، چې هر شپه به یې په میلمنو تکراراوه
- یو به یې ګواښنه - بل ته به یې بد بد کتل - ځینو ته به یې
دکلاشینکوف برچه نیوله - اوپه مرګ به یې ګواښل - اوان تردي چې
ځیني به یې تر لغتو لاندې هم اچول - هغه لکه کوچنی فرعون ګوتی ،
داسې وو- ښه ښکلې سپین اوبریتور هلک وو- په یو څو میاشتو کې یې
دوه رتبې اخیستې وې - دهغه په وتلو سره به په میلمنو کې ساه
وګرځیده - هر یو به ویل : بلا وه برکت یې نه و- یو سپین ږیري افسر
چې حکیمانه خبرې به یې کولې یوه ورځ دهغه له وتلو وروسته وویل :
هغه کسان چې دنورو ازارولو نه خوند اخلي - هغه بې سببه نه وي -
هغوی سره ارومرو کوم بد فعل شوی وی دا یو ډول سادیزم دی - اوبیا



www.sikaraam.com

يـې دكنايي په توگه وويل : اوزه چې گورم  نورالدين خان هم ښنه وخت
تير كړى دى (!)

## (۱۷)

يوه شپه تر نيمايي اوښتي وه ـ په ساعت كې دشپې پاو كم يوه بجه وه
ـهسې خو دورځې محال هم ديوې بجې محال ښنه نه ايسيده ـ خو چې
شپه به شوه اويوې بجې ته به ورسيده نو بوگنوونكو اوازونو به مې
غوږونو كې ځاله كوله ـ په يوه بجه به ناڅاپه له خوبه را پاڅيدلم ـ تر ډيره
وخته ددې خبرې په سبب هم نه پوهيدلم ـ نه پوهيدلم چې ولې دې شيبې
زما په ذهن كې ديوې ډاروونكې بلا په توگه ځاى نيولى وو ـ خو دا شپه
چې زه يې يادوم هيڅ خوب رانه غى ـډډه په ډډه اوښتم ـ په كوټه كې له
هرې خوا دهر يوه تن نه خرهار اوريدل كيده ـ زما اودعمر جان بسترې
سره ښنگ په ښنگ وې ـ هغه په خوب كې  له چا سره چمبړ وو ـ ټولې



www.sikaraam.com

خبرې يې دپوهيدو وړ نه وې ـ خو ځينې يې دپوهيدو وړ وې ـ همدومره وپوهيدم چې يو چاته وايي :

((مه مه !مه ! پام کوه چې ما ځاه ته گوزار نه کړې ـ گوره که گوزار دې کړم ازار دې په غاړه ـ ))

((گوره ! گوره ! گورة! پام کوه پام کوه ـ اوپه يوه زوروره کړيکه دې هم له خوبه راپاځيد ـ)) په دهليز کې دپښو کړپهار شو ـ غوږ مې نيولى وو اوس دلته دروازه بيرته کوي ـ نه نه ـ تير شول ـ نفس مې بند کړ ـحواس مې را ټول کړل ـ خو تيريدونکي پورته تير شول ـ اوبيا بيرته کښته ولاړل ـ د دهليز د لويې دروازې دقلف نه کړپ پورته شو ـ نږدې پنځه لس منټه په کې تير شول ـ دموټر غر هار مې وانه وريد ـ خوب مې له سترگو تښتيدلى وو ـ سوچونه يو په بل پسې ذهن ته راتلل ـ يو وخت همداسې دپوهنتون په ليليه کې ناست ووم ـمحصل ووم دماښام اوه بجې وې ـدسرطان مياشت وه دکوټې ټول محصلين را ټول وو ـ دروح الله په نوم يوه زده کوونکي بينجو غبرگوله اونورو يې هرکلى کاوه ـروح الله په يوه سترگه نابينا ـهغه يو ډير ښه تکيه کلام درلود ـ هرچاته به يې دتره زوى ويل ـ بالاخره هغه ته هم ټولو دتره زوى ويل ـ ددروازې پياده رانووت ـ سملاسې يې ماته وويل ټهر دوه کوچنيان ولاړ دې تا غواړي۔

زه هم په ترات دروازې ته ورغلم ـ په لنډه لار کې مې یو عالم اوږود ذهني سفر وکړ ـ ((بیا خپل کلي ته ولاړ م دخپلې کلا دمخې خوړ وینم چې داوبو په ځای په کې وینې څپې وهي ـ ټول خلک اوتر اوتر گرځي ـ ټول کلی جنازه جنازه دی ـ))

په دروازه کې مې په یوه اشنا هلک سترگې ولگیدلې ـ سملاسي یې دروغبړ نه وروسته وویل ځه ورشه اوبوټان دې په پښنو کړه ـ لاړ به شو میرویس میدان ته ـ پلار مې غوښتی یې ـ زړه مې درز وکړ ـ څه خبره خو نه ده ؟

-هغه وویل زه نه پوهیږم ـ خو پلار مې ټینگار کاوه چې ته راشه ـ کوټې ته ستون شوم په وارخطایي مې کتابونه ټول کړه ـ بوټان مې په پښنو کړل ـ څادر مې راپورته کړ ـ په کوټه کې ټول یاران اوتر شول ـ څه خبره ده ؟

بیا په دې پوه نه شوم ،چې څه خبره ده ـ زما ذهن اوخیال نور هلته نه وو ـ ((دسترگو په وړاندې یو لښکر وینم ـ هغه دکربلا میدان دی ـ شمر ولاړ دی ـ شمر گوزارونه کوي ـ په خپل توره گوزارونه کوي ـ عباس علمدار په لاره گود گوډ ځي ـ ښه قدمونه نه شي اخیستلی ـ چابک نه شي تللی ـ دشمر اولاده اوټول کوفیانو زوزاد دهغه مخه نیسی ـ هغه داتیا کلونو بوډا دې ـ تږي دی ـ اوبه نشته ـ اوسر تور سر یې رهي کوي ـ په یو ځای



www.sikaraam.com

کې یې پټکی لوییږي ـ بیرته یې راپورته کوي ـ پر سر کوي یې ـ اوبیا په لار کږوپ کږوپ ځي ـ اوهلته ورځي چې شمر ولاړ دی ـ شمر غاښونه چیچي ـ اوبیا پرې دتورو گوذارونه کوي ـ

دشمرانو سترگې سرې دي دهولو له سترگو دخوني خونکارو ځنارو په څیر وینې دارې وهي ـ اوپر هغه گوزارونه کوي ـ )) بیا له ځانه سره وایم نه نه داسې به نه وي ؟ له ځانه سره بوگنیږم ـ ولي نو دځه له پاره ـ ایا شمر هره پیړۍ را ژوندي کیږي ـ ایا اسماعیل بیا حلالیږي ـ

خو زما دسترگو په وړاندې زما سیوری اوزما په وړاندی یو ه څیره راته وایي ـ داوار خلیل قرباني کیږي ـ اسماعیل دې کښیني ـ اسماعیل تښتیدلي دی ـ اسماعیل نشته هغه الوتی دی لومړی هغه وینې بهولي دی ـ اوخلیل اوس په گوتو ورغلی دی دا اوس امر شویدی چې که اسماعیل نشته نو خلیل باید ووژل شي ـ دادخدای امر نه دی ـ دادفرعون ،شمر اویزید امر دی ـ په دې کې درحم اوعدالت مساله مطرح نه ده ـ دا دفرعون اویزید په نزد عدالت دی ـ یزیدې عدالت ـ فرعوني عدالت ـ ((

((خپلې دیرې ته ورنږدې شوم ـ سپین ږیرې خلیل په کټ کې پروت وو ، په سر کې یې دوه مرمۍ لگیدلې وې ـ هغه بوډا د اتیا کالو سړی وو ـ



www.sikaraam.com

شمريانو  په ناخبرئ وژلی وو ـ یوه تن یې په لیدلو ضعف وکړ ـدکټ لاندې پریووت ـیوه بوډۍ هم کټ ته ناسته وه راغاړې وته ـ ټول خپلوان راټول ول ـ دیره هم دخلکو ډکه وه ـ ))

دا ټوله کیسه مې لکه دتالندې یوه څریکه په ذهن کې بیا راژوندۍ شوه اوتیره شوه ـ په ډډه واوښتم ـ له ځانه سره مې وویل : شیطانه کور دې وران شه ـ ! ولې مې په تیرو ټپونو مالګې دوړوې ـ اوبیا مې سترګې پټې کړې ګوندې خوب راشي ـ خو دعمر جان خرهارې اوله ځان سره په خوب کې بنګارې خوب ته نه پرېښودم ـ

(۱۸)

یوه شپه مې  ډډو اوتن سخت خارښ کاوه ـ ډیر یې وزورو لم ـ ما فکر کولو  چې داوښانو له غوښو سره حساسیت لرم ـ اویا مې بل کوم څه داسې خوړلي چې اوس مې ډډې خارښ کوي ـ خو دډیرې ذهني ستړیا له مخې  ویده شوم ـ لږه شیبه چې مې خوب لږ څه دروند شو ـ چې وینم په کوټه کې  دنغري څنډې چوي  اوله هغو میږیان  راووځي ـلږه شیبه پس میږیان دنغري له غاړې په کوټه کې خپریږي ـ دکوټې په جارغالي کې



www.sikaraam.com

سوري اوگوړونه اودرزونه نور هم زياتيږي ـ اودميريانو لښکر ترې لاري کوي ـ مور مې ژر له خوبه پاڅيږي ـ څراغ لگوي ـ خو دکوټي څمکه ټوله ميږيان نيسي ـ ميږيان په يوه شيبه کې وزرې هم کوي ـ اودکوټې تورتم فضا نيسي ـ شور درب نه شته يوازې دميږيانو دوزرونو اواز شته چې پر پر کوي ـ دکور خلک ټول وارخطا کيږي ـ يواوبل ته دغږ اواواز تابيا کوي ـ دکلي يو مشر سړی راغواړي ـ هغه ورته دريږي ـ شوندې رپوي ـ څه دم دوعا وايي ـ اوبيا لاسونه پورته نيسي ـ دکور والا ته وايي تاسو مه وارخطا کيږي ـ دوی به يعنې ميږيان به پخپله ورک شي ـ

دکور مشر ورته غوږ نږدي کوي ـ پوښتنه ترې کوي ـ دا څه سبب دی ـ ولې داسې ميږيان له درينگې څمکې راووځي ـ

هغه ويل : سر پرې مه خوږوه ـ په کومه څمکه چې قتل اووژنې وشي ـ دبنيادم وينه نه پاکيږي ـ هغه ژوندۍ وي ـ هغه خپل ځان را برسيره کوي اوژونديو ته ځان وريادوي ـ خو داستاسي گناه نه ده ـ دلته ارومرو چې په سوونو کلونه ترمخه بې گناه قتلونه شويدي ـ اوهغه وينه اوس دميږيانو په څير فواره کوي ـ تاسې دوعا وکړی ـ خيرات ورکړۍ ـ ـ ـ ـ ـ))



www.sikaraam.com

ورور ورور سپین ږیري پناه کیدلو ـ رڼا په کوټه کې پیدا کیدله ـ وډاریدم ـ چې په یوې کړیکې سره له خوبه را پورته شوم ـ گورم چې په پاس کړکۍ کې لړه رڼا بریښیده ـ خو ډېرو اوتن مې هماغه شان خارښ کاوه ـ

عمر جان ته مې دډېرو دخارښ شکایت وکړ ـ هغه ویل سملاسي کالي بدل کړه اوخپلې بدې وگوره ـ ما هم ډیل ونه کړ ـ تشناب ته ولاړم اوپه تشناب کې مې کالي بدل کړل ـ نوی پرې منځلي کالي می واغوستل ـ خیرن کالي مې کوټې ته راوړل ـ عمر جان وویل : ښه شول چې کالي دې بدل کړل اوس دې دکالیو بدې اوتخرگونه وگوره ـ !

کله چې ماشوم ووم اوسر به مې ببر شو مور به مې په زوره راونیولم اوسر به یې راته ږرولو اوکله یې هم نه پریښودلم چې ویښتان مې اوږده شي ـ اوبیا چې کله رابوتکی شوم اودکلي خوا کې غره ته به دسر گرېو پسې تللم نو هره ورځ به مې یوببر سری لیونی لیده چې ناست به وو ډبرې به یې شمیرلې ، ویښتان به یې په اوږو پراته وو اوچې کله به ما سلام ورواچاوه سترگې به یې راپورته کړې اوپه ډیر حسرت اوځیر ځیر به یې وکتل په سترگو کې به یې اوښکې تاوې شوي ـ اوبیا به په خپلو سوچونو کې غرق شو ـ ویښتان به یې انجړ ول ـ دکلي خلکو دلیونې دځوانۍ اوښه مست زلمیتوب کیسې کولې ـ ویل به یې هغه ډیر هوښیار



www.sikaraam.com

اوزیرک اوزیارکښ سړی وو ـ ښه مېړور ځوان وو ـ دکلي په چم ګاونډ کې څو کلا ګانې دهغه په لاس جوړې شوې وې ـ خلکو ویل هغه ته چا په دوډۍ کې څه ورکړي و۔ اوله هغه وروسته بیا لیونی شو ـ خو ځینو به دلیوني کیسو ته نورې شاخ وپنجی هم ورکولې ـ لیونی ملنګ چې هر څه نومیده خو خلکو به پرې دصنوبر غږکاوه ـ او

وایي چې هغه ماشوم وو چې دخپل پلار له سیورې بې برخې شو چې رازلی شو دکلي یوه ښکلې نجلۍ یې په برخه شوه اووادہ یې وکړ ـ له پلاره ورته ښه ښایسته هستې اوجایداد پاتې وو ـ

یوه ورځ مې دخپلې میرې مور نه پوښتنه وکړه چې صنوبر ولې لیونې شو هغه مهال زه ډیر کوچنی ووم ـ هغې څو وارې خبره تیره راتیره کړه ـ خو ما وچیړله ـ اوبیا یې ماته ددې کیسې پر ځای دګلې اوصنوبر نکل وکړ :

هغې ویل : یو وخت یو باچا وو ـ نوم یې صنوبر وو ـ ښایسته ملکه یې درلوده ـ دهغې نوم ګلۍ وه ـ ګلې دباچا له نوکر سره تار درلود ـ باچا به هره ورځ اسونه کتل ـ یو اس یې ډیر ډنګر مالومیدلو کوم چې دباچا ډیر خوښ وو۔ یوه شپه له خوبه پاڅیږي چې ګورې دهغه په پاده کې یو مست اس نشته ـ بادشاه سره فکر پیدا کیږي چې اس ولې نشته ـ بیا دګلۍ حرم ته ورځې ګورې چې ګلۍ هم نشته ـ تر سهاره بلکې څو



www.sikaraam.com

شپې دا سې ځارنه کوي ـ یوه شپه ګوري چې ګلۍ په هماغه اس تللي وه بادشاه داس منډونه تعقیبوي اوبالاخرهغه ځای ته ورځي ـ ګورې چې ګلۍ دیوه زنګي سره ناسته ده ـ

نوبیا خو ځکه پښتنوویلي دي :

څوک چې له یاره وفا غواړي

ماته کیسه دصنوبر رایاده شینه ـ

نو دا خو هاغه ساده صنوبر نه دی ـ دادګلې صنوبر دی اوس په خپله مینه کې همداسې لیونی دی ـ

خو ربنتیانۍ کیسه رانه اوږده شوه ـ اوددو دخاربن پر ځای په عجیبو خیالاتو واوبنتم ـ

(۱۹)



www.sikaraam.com

قضا ماسپښین وو ، لا دچایو پیاله مې په یو لاس او د سیلو ډوډی مې په بل لاس کې ورسره خوړله چې کامل خان کاکا سپین کالي لکه فرښته په دروازه کې دتل په څیر ودرید ـ اوپه دې هیله وو چې ژر انګړ ته ووځو ـ له ګړې برې وروسته مې دشپې دخوب اواستراحت پوښتنه وکړه ـ هغه وویل ـ زه ماسپښین له لمانځه وروسته یوه سپاره وظیفه کوم اوبیا نفل لمونځ اوبیا ویده کیږم ـ خو که دسهار له لمانځه نه وروسته راته خوب راشي نو یوه سترګه خوب کوم ـ

-اورښتیا کاکا ودې نه ویل چې ته یې ولې دې میلمستون ته راوړلي ـ؟
هغه وویل : ته یې ولې راوړلې ؟

ما وویل زه به درته یو نکل وکړم . هغه ویل څنګه ؟

ما ویل : په اولو شپو ورځو کې چې کله زه دمیلمستون یوې غټې کوټې ته ننوتم ـ نو هلته دکابل دمنډیي یو نداف هم هلته را وړل شوی وو ـ هغه یې دپوښتنو اوڕرویړنو له پاره بلي کوټې ته بیولې وو ـ خو چې بیرته راغې موږ پرې راټول شولو اوپوښتنه مو ترې وکړه چې څه پوښتنې یې درڅخه کولي ـ

هغه وویل : یوه پوښتنه داوه چې ته په کوم حفز (حزب )کې یې ؟



www.sikaraam.com

یوه ترې پوښتنه وکړه : نو تاورته څه وویل ؟

-زه دندافی په حفز(حزب) کې یم ـ

موږ ټول مسکې شو ـ نو ته یې ولې راوستلې ؟

هغه وویل : صیب زه یې باالفعل ونیولم .

-

نگه ؟

-

مازدیگر لمونځ مې کاوه ـ دوه تنه راغلل اوزه یې راوستلم .

څه گناه دې کړې وه ؟

نوره گناه خو مې نه وه کړې ؟

نوله چارسره دې رابطه لرله ؟

-

وازې دخپلې میرمنې سره او دخواوشاه دوکاندارانو سره اوهغه چا چې به مالوچ راوړل اومابه ورته وهل دهغو سره مې هم رابطه درلوده ـ



www.sikaraam.com

-

وردې له چاسره رابطه درلوده ؟

-

یب له ډیرو کسانو سره، ټولو هغو خلکو سره چې مالوچ یې اخیستل اویا یې پلورل  ما ورسره رابطه درلوده ـ

-

تاسو حفز (حزب ) لوی دی ؟

-

و صیب لوی دی ـ زه دمالوچو کاروبار کوم ـ

کله چې مې کامل خان کاکا ته دا کیسه خلاصه کړه  په کټ کټ یې وخندل ـ خو اوس به درته کیسه وکړم ځکه چې زه یې بالفعل نه یم نیولی-

دغوایي په اومه ورځ کله چې اسمان اوځمکه دواړه په سرپو پوښلي وو ما ته هم امر وشو اوما امرپرځای کړ-

-څنګه ؟



www.sikaraam.com

-ته خو صبر وکړه له موټر نه مخکې منډې مه وهه ـ ربښتیا درته وایم زه یو ساده افسرو وم زه ستاسو په سیاستونو میاستونو نه پوهیږم ـ چې څوک څه وایي ـ خو دماسپښین دوه بجې وې چې ددارالامان په سړک ټانکونه راروان وو ، ما ته امر وشو اوما هم امر پر ځای کړ ـ

-نو په ټانک دې ډز وکړ ـ ؟

- نو څنګه کوې ؟ امر امر دی ـ اوزه خو عسکر یم زه چې کله له حربې پوهنتون نه فارغ شوم ما کرچ اومنبر باندې لوړه وکړه اوسوګند مې یاد کړ ـ زه اوس هم هغې ته وفادار یم ـ

زما په فکر ما دوطن په وړاندې کوم بد عمل نه دی کړی ـ —

-

انقلاب مخه دې نیوله نو دا کوم ښه کار دی ؟

-

ا انقلاب مینقلاب نه پیژانده ـ زه یو عسکر ووم اوامر مې پیژانده ما په کرچ باندې دهمدې له پاره سوګند یاد کړی وو چې دنظام نه دفاع وکړم خو نور مې مه چیړه ـ



www.sikaraam.com

-

ښه نو بيا دلته راغلې ؟

-

و دلته راوستل شوم اودلته پروت يم دادی څه کم دوه کاله کيږي ـ

-

وښتنې گرويږنې درنه شوي دي ؟

-

ې ډيرې شوي دي ـ اوهر څه چې وو تير شول ـ

-

لته په ميلمستون کې ډيرو کسانو سره دا پوښتنه ده چې کامل خان کاکا دورځې په لړ کې عادي کالي اغوندي اوچې مازديگر شي نو سپين کالي اغوندي دا دڅه له پاره ؟

-

دې خبرې راز به درته بيا بل وخت ووايم اوس نورې پوښتنې مه کوه ـ

-

ا ددې خبرې سره دهغه په څېره باندې دخپګان يو تورلوګی وليد ه ـ دنهيلۍ څپه پرې را غبرګه شوه ـ

-

ژمي لمر کرار کرار دديوالونو له سرونو په تلو کې وو ـ يخ اوساړه دباد په وسيله له ليرې داوريدلي واورې زيرې راووړ ـ ميلمانه هم يو يو دهليز اوکوټو په لور رهي کيدل ـ کامل خان کاکا هم دلمانځه له پاره ستون شو ـ څادر يې خپور کړ اولاسونه يې دلمانځه په نيت غوږونو ته پورته کړل اوزه ترې په دهليز راننوتلم ـ دکوټې څراغ مې ولګاوه پخپله خوره وره بستره کښيناستم ـ يو وار مې پيالې ته پام شو ، بيامې دکاليو غوټې ته پام شو چې څو ورځې دمخه راته راغلې وه ـ اغوستې مې لا نه وه همداسې ايښې وه ـ

( ۲۰ )

يو چرګبانګ مهال له خوبه راپاڅيدم ـ ګورم چې عمر جان مې څنګ ته ناست وه اوچرتونه يې وهل ، ترې ومې پوښتل :

ولې نه ويده کيږي ؟



www.sikaraam.com

-خوب نه راځي ـ

- پریووځه اوسترګې پټې کړه ـ

- بیا هم --- - - - - -

خو ما نورې خبرې ونه کړې سر مې په کمپله کې تا و کړ ـ نور مې ونه چیړه ـ خو سهار ناوخته چې پاځیدم ، دبیګاه شپې دوینې ناستې سبب مې ترې وپوښته ـ هغه وویل : هسې ناارامه وونکي خوبونه مې ولیدل اوبیا خوب نه راتللو ، همداسې ویښ پاتې شوم ـ

-

ولی شې خوب دې راته ووایې ـ ؟

-

صلي خبره داده چې دا نږدې نهه میاشتې وشوې ـ زما کورنۍ اوخپلوان هم خبرنه د ي چې زه دلته یم څه احوال یې هم نشته ـ ما نوی واده کړی وو ـ یوازې دوه کاله مې تیر کړي وو ـ پخپل کلي کې اوسیدم ـ یوازې دیوکال له پاره مې میرمن راسره په کابل کې وه ـ هغه ددونیا دحال احواله خبره نه وه ـ کله چې زه دې میلمستون ته راوستل شوم نور یې په هیڅ درک پوه نه یم ـ



www.sikaraam.com

نو بیگاه مې ډیر بد خوب ولیده ـ زه لیرې دکلا په یوه کونج کې ولاړ یم چې زموږ په کور کې واده دی ـ واده زما نه دی ـ خو زما په میرمن بیا دناویتوب شالونه پراته دي ـ ټکان مې وخوړ اوله بیا ناویتوبه یې وډاریدم ـ ـ له خوبه راویښ شوم ـ اودوه درې ساعتونو  له پاره مې سترګه پټه نه شوه ـ کله چې سهار شو ـ اوروښنايي دکړکۍ له لارې کوټې ته راننوته ـ زه هم پاڅیدم اوتشناب ته ولاړم مخ لاس اوخوله مې پرې منځل ـ دعمر جان خوب زه هم یو وار بیا خپلې لومړۍ ورځې ته ستون کړم ـ

(۲۱)

یووار مې په غوږونو کې بنګارى شو ـ تکراري خبرې مې یو وار بیا په مغزو کې لارې وکړې ـ (( ته ډیر بې پروا یې ـ زما دګل په څیر زوی به رانه اوبه یوسي ـ درته ومې ویل چې نن ارومرو دزاړه غوايي هډوکي راوړه ـ چې جو ش یې کړم ـ خو ته نه پوهیږم چې بیا په کومه درګاه ورک یې ـ ولې کورته نه راځې ، شپه ده ـ بیا سخته شپه راروانه ده ـ ماشوم تبو نیولى دى ـ له یخنۍ لړزیږي ـ )) زه چې له یوې خوا مې دا خبرې په تکرار سره په ذهن کې دجوجو ماجوجو په څیر خوځیږي اودسرو مچیو په څیر مې په ذهن کې خپلې لشکې تشوي ـ له دفتر نه دخپل کور په لور په تراټ روان یم ـ په دې وسوسه کې یم چې کوم



www.sikaraam.com

قصاب ته ورشم ـ چې دزاړه غواښي هډوکي ترې واخلم ـ زړو ښځواوپخوانو تجربه کارو خبره ده چې دزاړه غواښي دهډوکو ښوروا دماشوم په وجود دشیرې ددانو په راختلو کې مرسته کوي ـ په مایې کار نشته چې ایا دا به سمه درملنه اوکه ناسمه ـ خو دمیرمنې دزړه سوبه به پرې وشي ـ داوسني طبابت ټولي چارې هم دومره په اوداسه نه دي ـزموږ پخواني خلک خو لکه دکونړ دسیند کاڼي وو ـ دکاڼو په څیر دتجربو اوروزګار په سیلابونو کې سولیدلي و، دهماغو خبره سمه ده ـ اوزه هم باید همدا عملي کړم ـ اوباید هڅه وکړم چې ژر دا کار وکړم ـ

په بس کې سوریږم ـ دمیرویس میدان دقصابانو په کوڅه ورننوځم ـ په لومړي دوکان مې سترګې لګیږي ـ ، زوړ غواښي په کې ځوړند نه دی ـ یوازې زړې پاکستانی مینبې دي ـ سر یې لاندې په ځمکه ایښی دی ـ بټې بټې ګوري ـ قصاب چې حلالوله سترګې یې ورته نه دي پټې کړي ، تیره چاړه یې ورته په مرئ راکښلې ده یو دوه درې لغتې یې وهلي اوبیا ترې وینې تللي دي ـ

-قصاب کاکا دزوړ غواښي غوښه لري ـ ؟



www.sikaraam.com

-هغه بوخت دی ـ یو مشتري ته غوښه را توږي ـ -وینو یې ددوکان په مخکې لارې کړي دي ـ وینه – سره وینه ـ سره رنګونه ، قصاب اوقصابان ـ

کاکا ګاو پیړ راکشتي ـ ( کاکا زوړ غوايي دې حلال کړی دی ؟ )

-(صدقه ات شوم ګا وپیر ر ادرمسلخ بپالید) ـ زوړ غوایې اوس په مسلخ کی ګوره له پاکستانه راځي اوهماالته یې مسلخ اخلي ـ عسکرو ته بې حلالوي ، بندیانو اونورو ته یې -- دلته زوړ غوايي له کومه شو ؟ اوس غوايي ما یې نشته ـ اوس د((خوسکو)) وار دی ـ ماته هم یو چاله پکتیا نه له وردګو نه اوله پروان نه خوسکی راوړي دي ـ همدومره حلالوم چې وپلورل شي ـ

- خو زما ډیر ضرور په کار دي -ماشوم زوی مې ناروغه دی -شیری نیولی دی ـ

-

وس خو اغا په ټولو خلکو شیرې ګډ دی -ټول شیري نیولي دي څوڅیکې هم ورسره دی ـ ټوخلي هم په کې ګډه ده ـ اونس ناستی خو څه کوي ؟

دقصاب خبرو په خبر وکړې واخیستم ـ ـ له ځانه سره وایم ، نو څه وکړم ؟ میرمن مې بیا راته وایي ؟ ))

-(( ته ډیر غافل سړی یې ـ غټ مټ هلک به رانه اوبه یوسي ـ ـ ته څنګه پلار یې ؟ چې دزاړه غوایي هډوکي په دې لوی ښار کې نه شي پیدا کولای ـ ؟ وای وای ـ

بیا بل قصاب ته ورځم ـ له ځانه سره بنګیږم ـ

-پام کوه چې دوینو لښتي کې ونه خیژې ـ کوڅه ټوله وینو نیولې ده ـ دوینو رود بهیږي ـ څومره وینې ،خو دپسونو اوخوسکو ویني دي ـ زاړه غوایي نشته ـ پام پام چې دوینو ډنډ کې ونه خیژي بیا سر پورته کوم ، دیوالونه دوکانونه بهر بازار ، ودانۍ مازدیګر دی اسمان ته ګوره هغه هم سور دی ـ هر څه سره دي ـ ټول سره دي نه داسې نه دي ـ ؟ سترګو مې تور وخوړ اورومرو چې زما سترګې سرې شوي دي ـ نه په سترګو مې څه بلا لګیدلې ده ؟ ټول مالت ، ټول اوټول هر څه سره دي ـ سرې وینې دي ـ ډیر څاروي ځوړند دي ـ وینې ترې څاځي ـ کوڅه کې وینې څپې وهي دوینو څپه ده له وینو نه ډکه نه دریدونکې څپه !!



www.sikaraam.com

بيا مې په تن سره خوله راغله ـ بوډې مور مى په يادراغله ـ هغې دخپل کاکا کيسه کوله ـ ويل :

((هغه ډير نيک سړى وو يوه ورځ يې چرگ حلال کړى وو ـ دچرگ وينه يې په لاس پرته وه اوبيا ورته ناست وو اوژړل يې ـ هغه فکر نه کاوه چې گوندې غوښ شوى بلکې چرگ ته يې ژړل ، چې ساه يې ورکوله ـ اوټوپونه يې وهل ، هغې ماته کيسه کړى وه نو ځکه خو بيا ما په ټول ژوند کى زړه نه ښه کاوه ـ چې چرگ حلا کړم ـ ماته که به کلي کې کومې ميرمنې زارى هم وکړې چې ددې چرگ سر غوڅ کړه يو الله اکبر پري ووايه ـ نو ماته به دمور خبره رايادده شوه ـ څنگه يې حلال کړم هغه خو وينه لري اودوينې توييدل ؟؟ـ ))

خو په اوږود اوتنگ دهليزکې ددرنو بوټانو په دربار سره مې يو ناڅاپه ذهن خپل ځاى اوموقعيت ته راو گرځيده ـ دسوچونو لړۍ مې وشليده ـ له کړکۍ څخه درڼا څرک نه مالوميده ـ په پاس منزل کې هم دربهار وو ـ شپه تر نيمايي اوښتې وه ـ خو کله چې په سهار خبر شوم ـ ځو تنه نور له ميلمستون څخه دابديت په لور استول شوي وو ـ

(۲۲)



www.sikaraam.com

یوه ورځ چې کله له انګړ څخه کوټې ته ننوتم اوستونې ستاغ په بستره کې پریوتم ، نو په انګړ کې دهغه ورځې داوریدلو کیسو په باب فکر واخیستم ـ میلمستون که له یوې خوا تنګ بند ، بې لارې اوبې مجرا ځای وو ـ نو د دروغو کارخانه هم وه ـ داسې چې کله به له کوټو انګړ ته راووتو نو یو نیم کس به دخپل ذهن تولیدات دواقعیتونو په بیه وړاندې کول ـ اوبې مالوماتو کسانو ته به هم خدای په لاس ورکوله چې ښنګه په اوازو اودروغو شخوند ووهي ـ ځینوبه ویل : فلانی وزیر ووژل شو ـ ـ فلانی قوماندان اوفلانی والي پر ضد خلک راپورته شول ـ خو له دې ټولو سره سره مې له ځانه سره وویل : خدای پوهیږي چې دا خبرې به سمې وي اوکه ناسمې ـ خو ومې پتییله چې رازه اونن ارو مرو کامل خان کاکا ټینګ کړه چې دسپینو جامو راز ووایي ـ زه لا په همدې چرت کې ووم چې کامل خان کاکا دکوټې دروازه خلاصه کړه ـ سم دواره مې ورته وویل : عمر دې دډیره دی ، همدا اوس مې په ذهن کې ګرځیدلې ـ هغه وویل ښه دې دایمان شه ،راځه چې بهر ولاړ شو :

ما ویل درځه ! خو خبره به دې نه پټوې ، اوبیا سپک له ځایه پاځیدم اوله هغه سره روان شوم ـ



www.sikaraam.com

دواړه په نري تنگ دهليز کې روان شو۔ کله چې مو له لوېې دروازې څخه دانگړ په لور گام پورته کاوه ۔ ترې ومې پوښتل ۔ نن خو به دوه په دوه يو ۔ عمر جان هم له مواړ سره نشته هغه په يوه بله کوټه کې ټيکه کوي ۔ نن خو به ارومرو داکيسه کوي ۔ خپله کيسه به راته کوې ۔

هغه وويل : ښه ده نن به يې درته وکړم خو کله چې مې دا کيسه درته کوم هغه ټول ساعتونه اوشيبې مې ذهن ته راځي ۔ اوکله چې دهماغه وخت ترخې شيبې زما په ذهن کې راژوندۍ شي نو ډير زيات مې زوروي ۔ انسان ډير کلک موجود هم دی ۔ اودډيرو خبرو مقاومت کولی شي ۔

هغه کيسې ته دوام ورکړ : په اولو ورځو کې چې زه ميلمه شوم ،نو دسپکاوي ،وهلو دربولو سربيره به يې دشپې خوب ته هم نه پريښودم ۔ په نيمه شپه به يې بلې کوټې ته بوتلم ۔ هلته به يې دپښو اولاسونو په گوتو پورې راته برښنا سيمونه وتړل اوله يوه ديوال نه په بل به يې ويشتلم ۔ دا وگوره دا گوتې مې اوس هم بې حسه دي ۔ حرکت په کې نشته ۔

زه حيران شوم ۔ رښتيا چې دردوونکي دي ۔ هغه بيا دخولې توکاڼې يو ې خواته تف کړې همدا وخت زه وپوهيدم چې کامل کاکا نصور هم کوي ۔ له وانښکې نه يې نصوار وارتول ۔ اوبيا يې په خبرو پيل وکړ :



www.sikaraam.com

څو شپې سر په سر یې یوې دښتې ته دڅو کسو سره بوتلم سترګې به یې راباندې وتړلې - اوبیا به یې پر ما غږ وکړ - چې کلمه دې پر ځان ووایه !

بیا به یې ډزې وکړې - موږ به ټول ولویدو - خو زه یې ونه ویشتلم خو دمرګ نه یې ویرول ډیر زیات وو- نور زما په مخکې ورغړیدل - اوپه کندو کې یې دچرګانو په څیر پرکتې ووهلې - زه به یې دیو نیم کس سره بیرته کوټې ته راوستلم ، تر سهاره به خوب نه راتلو دوجود ویښته به مې نیغ ولاړ وو - په ګرمه هوا کې به مې سخته یخني کیده - جامې به مې ګړزیدلې اوڅه مې ویلې هم نه شول -

رښتیا چې درد اوکړاو وو -

هغه خبرو ته دوام وکړ - بنیادم ته ډیر دردوونکي ده چې ورته وویل شي ته وژل کیږي -اوهغه په ژوندوني خپل مرګ اوله خپله تنه دروح جلاکیدل تصور کړي -

نو له داسې زیاتو تجربو نه وروسته مې چې میلمستون ګڼ شو دمرګ اواعدام مساله مې حتمې وګڼله - په ځان مې یو پور وباله - کله چې له ما نه نور زیات کسان پیدا شول میلمه پالان دهغو په خدمت (!)بوخت شول



www.sikaraam.com

ـ خو زما هیڅکله مرگ نه هیریده ـ هر وخت مې دعزراییل څیره لیدله اووینم یې هر وخت راته ولاړ وي ـ نو ځکه مې دیو میلمه چې کورته تللو احوال ورکړ چې ماته سپینې جامې را واستوي ـ نو زه اوس هر مازدیگر لمانځې سپین کالیو کې دشهادت کلیمه په ځان وایم ـ اوبیا ویده کیږم ـ

له خبرو سره یې ستونې ډډ شو ـ چوپ شو ، نو زه ددې هیله هم نوره نه لرم چې پراخ اسمان دې وګورم ـ بې دیوالونو ځمکه دې ووینم ـ شین شوبې اولارې دې ووینم ـ اوازاد دې وګرځم ـ زه هم چوپ شوم ـ دمازدیگر لمر نور ددیوالونو دبلیو له سره په پناه کیدو وو ، یخنې زیاتیدله ـ میلمانه هم یو یو دکوټو په لور روانیدل ـ کامل خان هم وویل زه چې زه اوته هم ولاړ شو ماویل سمه ده ـ

دواړه راستانه شو ـ اوپه چوپه خوله په دهلیزرانوتو اوخپلو کوټو ته سره ولاړو ـ

(۲۳)

دکوټې چت هوار دی ـ یوازې دنیم گز په اندازه یو گروپ پکې راځوړند دی ـ ښه روښانه گروپ دی ـ دا گروپ هم زموږ دکوټې دپیښنو شاهد



www.sikaraam.com

دی ـ دکوټې  په ځلورو کونجونو کې غنو ځالې کړیدې ـ له څو میاشتو راهیسې دې ته گورم چې دا غنې په خپل کار کې څومره چابکې دي اواخیر  تر کومه ځایه ددوی کار دوام کوي ـ سره له دې چې زموږ کوټې دیوې نوی ودانۍ یوه برخه ده ـ داوبو له پاره په کې نلونه نه دي تیر شوي ـ خو کوټه ددیوال په خوا کې اوبیخ کې یوه مرکز گرمي لري ـ چې د هغه په اثر کوټه ښه تودیږي ـ

دکوټې په  دننه کې تشناب لا کندو کپر دی ـ جوړ اوبشپړ لا نه دی ـ پرندې خاورې په کې پرتې دي ـ کاغذونه دچایو شمعې اونور خځلې اوخاشاک دي ـ هغې خوا ته موږهسې هم نه ورځو ـ خو کله نا کله چې چای کوو ـ نو هلته په چایجوش کې او گرمې بڼدو اوبه جوش کوو اوبیایې په کوټه کې په ترموز اویا چایجوش کې اچوو ـ تشناب هم یوه اوچته کړکۍ لري ـ دکوټې دکړکۍ په اندازه چې نه خو څوک وررسیدلی شي ـ اونه ورته څوک پورته کیدلی شي ـ کړکۍ په اوسپنیزه  پنجره پوښلې ده ـ یوازې چې څوک دکړکۍ خواته وگوري  ان دیوه یا دوه مترو په اندازه اسمان لیدلی شي ـ داسې مالومیږي ـ چې دې کوټې نه یوازې موږ کوچني کړي یو، بلکې فضا اواسمان یې هم کوچنی کړی دی ـ زموږ تصورات یې هم کوچني کړي دي ـ ورو ورو داسې تصور کیږي ـ چې موږ له ماضي سره رابطه شلوو ـ خو نه! زه کله نا کله په خپله حافظه فشار اچوم



www.sikaraam.com

چې تير هير نه کړم ـ دهغو له يادونو خوند واخلم دهغي ورځې په ياد
چې دلته راوړل شوم ـ هغه هم عجيبه ورځ وه ـ دنن نه لس مياشتې دمخه
يوه دپسرلي ورځ وه اوس دادی ژمې دی ـ لس مياشتې دسترګو په رپ
کې تيرې شوې خو اه دشاعر خبره چې ((زمين غالب زمان مغلوب ))
دلته ربنتيا چې ماحول له زمان څخه بهر دی ـ زمان يا زروان سپيڅلی دی
ـ يوه ورځ دچهارشنبې ورځ وه ـ دوري دمياشتې دلومړی اونی سهار
وو ـ دچهارشنبې ورځ لس بجی وې ـ دکوټې ټول کسان په بسترو منتظر
ناست وو ـ په دروازه کې يو ميلمه پال لکه يوه بلا را شين شو ـ دټولو
سترګو ورته تور خوړ ، بنيادم يې نه احساس کاوه بلکې ما خو خپله يوه
اژدها احساس کړه ـ هغه يو افسر وو ـ بنه پلن افسر ـ نږدې دروازه يې
ټوله ونيوله ـ دهغه په دريدو سره په دروازه کې دهغه جسامت اوددروازې
ترمنځ لږ چاو د مالوميده ـ

خو سر يې ددروازې پاسنۍ درشاۍ ته نه رسيده ـ په لاس کې يې يو
کاغذ نيولی وو ـدچوپ شي‌اواز نه وروسته يې څو نومونه واخيستل يو
نوم په کې زما هم وو غريبې وکړ ـ امين الله ولد عزيز الله ـ !

ما دصيب غږ وکړ ـ



www.sikaraam.com

-راولاړېږه ـ غوټه دې راواخله ـ ما غوټه نه درلوده ـ سپک پورته شوم ـ اودهغه په لور روان شوم ـ دوه کسه نور دکوټې دبر کنج څخه را پورته شول اودروازې ته رانږدې شول ـ بیایې غږ وکړ ـ

همدلته ودرېږی اوبیا یو یو ووځی  دلومړي میلمستون په انګړ کې یو تور سرپټې بې هندارو موټر ولاړ وو هغه ته په چابکۍ وروخېژول شولو ـ دوه تنه له وسلو سره لا دمخه په کې ناست وو ـ ناستو کسانو وویل ـ همدلته کښېنی بهر ته مه ګوری مخې ته هم مه ګوری غلي کښېنئ ځان ونه خوځوی ـ اوبیا لږه شیبه موټر حرکت وکړ ـ دګاډي وروستی دروازي وتړل شوه ـ یو بل کس هم چې دوسیه یې په لاس کې وه را وخوت زموږ ترمنځ کښېناست ـ موږ په زیر زیر دټولو کسانو له خوا څارل کېدو دخبرو حق مونه درلود ـ یو ساعت وروسته دکابل ختیزې څنډې ته ورسېدو ـ اوبیا زموږګاډی بېنې لاس ته وګرځید۔ اوبیا ګاډې په دې لویه هیبتناکه کلا راننووت ـ دموټر په راتګ سره یوه لویه اوسپنیزه دروازه بیرته شوه ـ موټر ننووت دشاه دروازه خلاصه شوه اودکوز شه غږ وشو ـ

موږ ټول یو یو له موټر څخه راکښته شو ـ په انګړ کې نور ډېر میلمانه په نامعمولو کالیو کې ولاړ وو دچا لنډ اودروغتون کالي اودچا هم عادي کالي په تن کې وو ـ



www.sikaraam.com

ټول ولاړ کسان موږ ته ځير وو- خو دخبرو کولو حق نه موږ درلود اونه هم ولاړو کسانو ـ يوميلمه پال غبږوکړ په جګ اواز يې وويل : حرکت ، حرکت ، حرکت ـ

دهغه دحرکت په غږ سره ټول ميلمانه په لنډو پرتوګونو اوکميسونو کې دکوټو په لوررهي شول ـ هغه کس چې دحرکت غږ يې کاوه ګل اغا نوميده ـ هغه مې بيا وروسته وپيژانده چې ګل اغا يعنې څه ـ ؟

هغه دټولو ميلمنو په تن ويښته رانيغول ـ هغه ته ټولو ميلمنو ((ګشتاپو)) ويل ـ ((ګشتاپو)) دنازي المان دجاسوسي سازمان غړي ول چې انسانان يې ژوندي سيزلوداشونو کې اچول ـ خو ګل اغا په هغو هم ور اړولي وه ـ انسان ورته دنصوار وګرد هم نه ښکاريده ـ هغه په خپل امر دوژلو اوتړلو اوترټلو واک درلود ـ کله چې به ګل اغا په دهليز کې را څرګند شو ټول به لکه ترهيدلې  مرغۍ پټيدل اويوې ګوښې ته به کيدل ـ

په هغه ورځ زه هم نوی راغلي ميلمه ووم ـ هغه مې لومړی ورځ وه - چې ځان مې داوچتو اودنګو ديوالونو په منځ کې احسا س کړ ـ

خو اوس له دغه پرونۍ شپې نه چې دپرون په څير تيره شوه دادی لس مياشتې کيږي ـ خبر نه يم چې په ماشوم زوی به مې شری راختلی وي



www.sikaraam.com

اوکنه ؟ خو باید هڅه وکړم چې دزاړه غوايي هډوکې واخلم اوهغه ته يې یوسم چې دمیرمنې له سپورو ستغو خلاص شم ـ

(۲۴)

دژمي موسم خپل سر راوړی دی ، دمني ساړه بادونه ورو ورو کمیږي اوخپل ځای وچې یخنۍ ته پریږدي ـ دغرمې مهال چې کله بهر انګړ ته راووځو نو کاڼي هم یخ وي ـ ځمکه هم یخه وي ـ داوبو نل څخه روانو اوبو هم کنګل نیولي وي ـ هر څه کنګل وي ـ داسې مالومیږي چې په فضا کې هم کنګل جوړ شوی دی ـ داسې بریښي چې دمیلمستون ساتونکي هم کنګل شوي دي ـ هیواد ټول کنګل دی ـ قانون خو لا دمخه کنګل وو ـ ان تر دې چې دقصابانو کوڅو هم کنګل نیولی دی ـ ځمکه ، فضا دیوالونه ستوري کوټې اولویه برجوره کلا د((دقیانوس ))دوران ته ورستنه شوې اوسره شوې ده ـ په داسې ماحول کې یوازې زړونه درزیږي ، ترهه زیاتیږي ـ ډار زیاتیږي ـ اوپښې اوحواس سستي کوي ـ



www.sikaraam.com

خو کله چې زه نن بیا دغه انګړ ته راووتلم عمر جان هم زه وڅارلم اوزما په پلونو یې پل کیښود اوانګړ ته راووتلو ـ ما لا یو دوه دورې وهلي وې چې دی هم له ماسره یو ځای شو ـ ومې پوښته ـ څنګه یې اوحال دې څنګه دی ؟

-هغه په ټوکه وویل دا مې حال اودا مې احوال .

اوبیا یې دهندو دسنت کیدو کیسه وکړه ـ دوام یې ورکړ ـ ښه یم خو بیګاه شپه مې په خوب کې ماشومان لیدل ـ سهار چې پاڅیدم هیڅ وسه مې نه کیدله چې پورته شم ـ اومخ ولاس اوخوله پرې مینځم ـ تر ډیره همداسې پروت ووم اوپه ډډه اوښتم رااوښتم ـ

زه غلی شوم ـ نور مې ونه چیړه ! خو هغه خپلو خبرو ته دوام ورکاوه ـ پوهیږې دا مې لسمه میاشت ده ـ دکور وکلي هیڅ احوال نه لرم ـ زړه مې بده ګواهي ورکوي ـ پلار اومور مې دواړه بوډاګان دي دکار اوروزګار نه دي ـ میرمن مې دکور ښځه ده ـ اودیوه ماشوم سرپرستي ورته غاړه ده ـ کشر ورور مې په ښوونځي کې دی ـ خدای خبر چې ښوونځی ته به درومي اوکنه ؟



www.sikaraam.com

-

ندیښنه مه کوه  ـ ته له دې ځایه څه کولای شي ؟دټول هیواد اسمان یو ډول دی ـ په ځینو ځایو کې شین اوځینو ځایو کې وریځ وي ـ ساړه بادونه هرې خواته الوزي ـ خو اسمان هماغه اسمان دی ـ لمر سهار راخیژي اوماښام پریووځي ـ چې دنوروڅه حال وي زما اوستا به هم وي ـ

-

غه راغبرګه کړه ـ داسمه ده ـ خو دا  درته وایم چې زموږ دخلکو ډیر بد دستورونه دي دیوې ښځې چې شپږ میاشتې میړه لادرکه وي ـ ژوندي مړی یې مالوم نه وي هغوی پرې شریعت تطبیقوي ـ

-

عنې څه ؟

-

غوئ وایي چې ځوانه اوبې میړه ښځه باید پوړنی پر سر کړي اوسرتوره دې نه وي ـ ددې مانا داده چې میړه یې نه وي نو باید سرنوشت یې مالوم شي ـ



www.sikaraam.com

-

یران شوم ـ نور مې څه ونه ویل : هڅه مې وکړه چې نور څه ونه وایم اوخبره بدله کړم ـ ترې ومې پوښتل له اسلم سره دې څه ګوزاره ده ـ ؟

-

یره ښه ده ـ هغه اوس هم کلچې دکابل دنجونو په انداز خوري چې لب سیرین یې خراب نه شي ـ اوبیا یې وویل دا میلمستون او دعسکری دوره او دسفر ملګرتیا درې واړه دازموینې ډګرونه دي ـ دانسان سړیتوب اونه سړیتوب ، دانسان درنوالی اوسپکوالی اوهرڅه په داسې حالت کې سړی ښه پیژندلای شي ـ

-

ا ویل داسمه ده ـ ترهغې چې له چاسره نږدې نه شې اوله نږدې یې ونه پیژنې ـ قضاوت پرې نه شې کولای ـ

(۲۵)

سړو بادونو ددروازو دتنبو په درزونو کې چنګاری کاوه ـ بهر ښه دمزې ساړه وه ـ دشپې اوه بجې یو میلمه پال کوټې ته راغی په غلې خو امرانه



www.sikaraam.com

اوازیې وویل : نن شپه څراغونه ګُل نه کړئ ـ ټول څراغونه باید روښانه وي ـ هر یوه ته پوښتنه پیدا شوه ـ ولې ا ودڅه له پاره ؟ څراغونه باید ګُل نه شي ـ

خبره داوه چې کله به دکوټې څراغ ګُل وو نو هر څوک چې به دکوټې ددروازې شاته ودرید ددروازې په سر کې له کوچنۍ هندارې یې دهلیز لیدلی شو چې څوک په کې کښته پورته کیږي ـ خو که څراغ روښانه وي نو ددهلیز څخه په کوټه کې ولاړ کس لیدل کیدی شي ـ په هغه شپه هیڅ چاته خوب نه ورتلو ـ یخني نوره هم زیاته شوه بهر دژمي دراتلو یخني اودننه دانسان دتن اوروان ساړه دواړه سره یو ځای شول ـ هیڅ داسې څه څرک اوهیله نه وه ـ په ټول دهلیز اویا په بله ژبه په ټوله ودانۍ کې چوپه چوپتیا وه ـ مطلق سکوت حکومت کاوه ـ داسې دود و چې هر څه دي دشپې له خوا له یوې بجې وروسته به کیږي ـ ساعت یوه بجه وه ـ په دهلیز کې دڅو تنودپښو دربهار شو ، پورته تیر شو اوبیا دلویې دروازې دبیرته کیدو اواز راغی ـ پنځه منټه تیر شول ـ دپښو اواز بیرته بیا غوږونو ته راغی ـ اوکښته تیر شو ـ څراغونه لګیدلي وو ـ دهر چا دزړه درزا اوریدل کیده دپښو اواز غلی شو ـڅو تنه تیرو بیر شول ـغږ غوږ نه وو ـ خو په کوټو کې پراته میلمانه ارام شول ـ لږه یې ساه وویسته اوهمدومره به هریو له ځانه سره ویلي وي چې بلا وه خو ددهلیز دبر سر



www.sikaraam.com

دمیلمه پر سر وه ـ چوپتیا   بیا هم حاکمه شوه ځراغونه دماجرا شاهدان وو ـ خو غبرِ غوږ یې نه کاوه اوشپه یې  ترسهاره پورې بدرګه کوله ـ ځینې ویده شول اوځینو دسترګو نه خوب دروني هیجان تښتولې وو ـ سهار رانږدي شو ـ

سهار ناوخته چې را پاڅیدو دټولو سترګې پړسیدلې وي ـ یو له بل سره خبرې نه کولې ـټولو  یو بل ته ځیر ځیر اومانا دار ډول کتل ـــ ـ ـــ ـ

خبره ځرګنده وه ـ په هماغه شپه دوه ستر کسان دپوځ یو پخوانی جنرال اویو داکتر له کوټو وویستل شول ـ لومړی دمالوماتو کوټو ته یو وړل شول ـ هلته یې په مریو ځو کسه کښیناستلي وو پښې یې پرې ایښې وې ـ خولې یې ورته بندې کړې وي ـ اوکله چې یې ساه ختلي وه نو بیا یې دهغو جسدونه په موټرو کي اچولي اولیږې دښتې ته یې وړې وو ـ

جنرال دډیر وقار اودوطن په وړاندې دستر احساس خاوند وو کله چې به په دهلیز کې  تلویزیون ته کښیناستلو اوپه تلویزیون کې به دوطن جنډه اوملي سرود خپریده ـ نو جنرال به تر پایه سلامي ولاړ وو۔ جنرال یولوي قومي نفوذهم درلود ـ په پوځ کې دډیرو افسرانو استاد پاتې شوی وو ـ نو له همدې کبله هغه ته خپل لیاقت ، تجربه اونفوذددې سبب شوي وو ، چې له خلکو ګوښې اودلته میلمه شي اوپه یوه لویه دسیسه کې یې پښه بنده



www.sikaraam.com

شي ـ دجنرال نشتوالي لکه چې ټول دهليز څخه ارواح کوچولي وي ـ دهغه خپل خپلوان اوټول ميلمانه که له يوې خوا دجنرال په اړوند فکر لا هو کړې وو نو له بلې خوا يې دخپل سرنوشت په اړوند په فکر کولو اخته کړي وو۔

هغه سهار نه بلکې ټوله ورځ اوان ورځې ورځې په لويه کلا دغم خپسه ناسته وه ـ چا سم اسويلى نه شواى ايستلى ، دټول کسانو په اوږو او ورميږ دغم بار پروت وو ـ داسې چې نه شي کولاى څه ووايې اويا له چا سره خپل خپگان شريک کړي ـ

(۲۶)

دکوټې پاس چت کې مې دغنمې ځالي ته بيا پام شو ـ کتاب اوکاغذ هم نه وو چې پام پرې غلط کړم ـکتاب لوستل يوه گناه وه او دقلم لرل دوسلې لرلو مانا درلود ه ـ دغنمې ځاله له څو مياشتو راهيسې دلته جوړه وه ـ داسې چې کله نا کله به په يوه ځاې ولاړه وه اوکله به يې هم په خپل جال کې منډې وهلې اوخپله تنسته به يې اوبدله ـ اوس دا ځاله دڅو مياشتو په دوران کې ښه ښايسته غټه اوگڼه شوې وه ـ



www.sikaraam.com

دغښې منډو ترړو ته مې له ډیره وخته راهیسې پام وو، په لومړې سر کې یې ډیرې حشرې اومچان په خپل جال کې را ګیر کړي وو - اووینې یې ورته زیښبنلې وې -مچان اونورې حشریې په جال کې هم ځوړندې ښکاریدې - تالی یې په کې وهلې - په یو څو ورځو کې یې خپل جال دزیاتو حشرو اومیږیانو اومچانو څخه ډک کړی وو - تردغه وخته پورې خو مې دخپل بستر نه لیدله چې غټه ډیره ګړندی تاویدله منډې رامنډې یې وهلې - خو نن څه بل شان ده - نن دپرون په شان حرکت نه کوي - یوازې یوه پښه یې خوځیږي - اوهغه هم ورو حرکت کوي -

یوه ورځ مې عمر جان دغښې ځالې ته ځیر کړ - ورته ومې ویل ګوره دا دکوټې چت څوک پاکوي؟

هغه په خنداوویل : موږ وسایل نه لرو - اودمیلمستون والا هم په خپلو خولو کې ډوب دي - کارونه یې ډیر دي -ګوره دغښې سر هم زموږ ده باشي ته ورته دی -

ما ویل څنګه ؟



www.sikaraam.com

-گوره سترګې يې هم راوتلي دي - په قهر دی - داسې وخت به هم راشې چې دلوی ميلمه پال پښې هم وتړل شي ساه يې وخيژي - اوپه خپل جال کې پاتې شي -

-اودا مچان اوميريان څنګه ؟

دا مچان اوميريان خو لکه دا ميلمانه چې په خپل جال کې يې اچولي دي اولاس وپښې نه شي خوځولی - دساه ويستلو وس يې هم ترې اخيستی دي - نو رنو څه غواړې ؟

ما ويل ښه تشبيه دې وکړه -

-

شبيه مې ونه کړه - په طبعيت کې همدا ده -غښه ډير ځ خود خواه ده - ګوره چې خپل جال يې واوبده - نورې حشريې يې په کې را ونغښتې - اوچې وخت يې پوره شو اوس يې په خپل جال کې پښې پورته نيولي دي - هغه پخپله دخپلې ځان غوښتني په جال کې را ګيره اوبندی ده - اوس يې کالبد په خپل جال کې دادی ځانګي -

-

وره جال ته ګوره لکه چې غښې هم خپله ساه ورکړه - يو ځ کوچنی غښه



www.sikaraam.com

چې په خپلو توکاڼو یې را لوي کړ اوس یې په ورمیږ ناست دی اووینې یې ورزبیښني -

-

ا غنه  به هم غټه  شي ـلوي  به شي ـ ځانته به جال جوړ کړي ـ اوپه خپل جال کې به ددې په څیر ډیر ې حشري اومچان را ونیسې دهغو جسدونه به ځوړند کړي ـ اوبیا به دهمدې غښې په څیر پخپله هم دتورۍ په څیر وزانګي -

-

اځه دا دچرګ مځکې دې اوکه هګۍ  سکولاستیکي بحث به نور پریږدو ـ اوس به درته یوه پیاله تور چای واچوم ـ

-

س سمه ده  اغه دکندهارې خبره چې چای دې جارشم ـ اوس هم چایونه اچوې اوکنه ؟

-

ښتیا پوښتنه مې ونه کړه  چې ته تور څښې اوکه شین ـ ؟



www.sikaraam.com

-

ور اوشين يې لا چا ويستلی دی ـ بس اچوه يې او دملا خبره چې پوښتنه مه کوه ـ رښتيا يوه کيسه مې راياده شوه ـ

-

نګه ؟

-

وه ورځ زموږ اوجرې ته يو ميلمه راغی ـ هغه هم ملا وو خو چرس يې هم وهل ـ زه لا دمخه خبر ووم ـچې هغه يوه شپه دتراويح لمونځ ورکاوه ـ ښه دمزی چرس يې څښلې وو اوښه نشه وو ـ خو چې الحمد لله يې خلاصه کړه دسوره پر ځای يې د ياکربان (يا قربان )غږ وکړ اوټول کسان حيران شول ـ هغه نه يې پوښتنه وکړه ـ چې تور چای څښې اوکه شين ـ هغه راته وويل يو ه پياله تو راويوه پياله شين ـ نو لکه چې ته هم دهغه ملا کيسه کوې ـ

زه به تاته دچايو پياله ډکه کړم اوزه به دچايو سره لږه دسيلو ډوډۍ وخورم

-



www.sikaraam.com

-

ﻫ دسیلو ډوډۍ هم ډیره په مزه خورې !

-

و کنه  زه چې کله چاي جوړ کړم اودسیلو ډوډی ورسره راواخلم نو اغه دحاجي صیب خټک کیسه مې را یاده شي -

-

غه څنګه ؟

حاجي خټک یو سپین ږیری بوډا سړی وو - دی اصلا دموټرو دپرزه جاتو سوداګر وو  دمیلمستون په یوبل دهلیز کې سره نږدي اوسیدو - هغه به دخپلو سفرونو ډیرې خوږي اوخوندورې کیسې کولې - چې څابنت اویا تنکۍ غرمه به شوه نو زه به وږی شوم  - چای به مو جوړ کړ - پیاله کې به مې بوره واچوله -سیلو ډوډی به مې راواخیستله اوپه خوند خوند به مې خوړله -کله چې به دهغه راته پام شو نو ویل به یې :

-یره بچیه ! عجیب په  خوند یې خورې اوستا دا خوندور خوراک ماته یا دسرای شعبې چوپان کبا ب رایاد کړي - چې ددوکان هلکانو ته به مې وویل چې نن خو کباب راوړی -عجب خوند به یې کاوه-



www.sikaraam.com

حاجي خټک داويا کالو نه  پورته سړی وو۔ دهغه جرم دا وو چې دخپلې خولي چې فيودال وو (!) اودپرزه پلورلو دوکان يې درلود۔ هغه به ويل کله چې سيلو ډوډۍ له چايو سره خوري نو ماته مې خپل زلميتوب راياد شي ـ هغه کيسه کوله : کله چې موږ هلکان وو نو له پکتيا نه به مو لرګي په کچرو را بار کړل اوکابل ته به مو راوړل ـ له کورونو نه به مو ښه غټ سوکړکان په شا ګانو پورې تړلي وو ـ لښتې به مو لاسونو کې وې ، کچرې به مخکې وې اوموږ به ورپسې روان وو ـ ملا وې به مو تړلي وي ـ دمزله په وخت کې به زموږ ګامونو دکاڼو اوکرېږ نه اواز پورته کاوه ، کړپ کړوپ به جوړ و۔ ستړې ستومانه به دتيرې کنډو لمنو ته راکښته شو ـ بيا به په دې هڅه کې وو چې کومه وياله پيدا کړو ، اوبه وڅښو اودمه جوړه کړو ـ کچرې اواسونه به مو شاړو ته واړول ، دوياله په غاړه به کښيناستو ، داوبو اوويلنې سره به مو دسوکړک چنډې په خوله کولې يره څه عجب خوند يې کاوه ، ويم دسرای شوبې کباب دې ترې ځار شي ـ  اوبيا به يې ماته مخ کړ ـ نو ته چې دچايو اوډوډۍ په داسې خوند خورې ماته  هاغه سفرونه راياد شي ـ

حاجې صيب يو دروند سپين ږيری وو ـ يو ښه پښتون وو ـ هغه ډير بوډا وو۔ دوه درې واره په ميلمستون کې دناسمو خوراکونو له امله ناروغه شو ، خو دخدای فضل وو ژر ښه شو ـ زه نه پوهيدم اوپوښتنه مې هم ترې



www.sikaraam.com

نه کوله ـ خو فکر کوم چې ګناه یې همدا وه چې پیسې اودوکان یې درلود ـ اودهغه خبره فیودال وو ـ هغه پخپله هم دفیودال په مانا نه پوهیده ـ خو ده به ویل چې ما ته یې پیو ډال ویلي ـ

مازدیګر مهال به موږ ټول دهغه په شاوخوا راټول وو ـ ښه اوږده اوږده نکلونه به یې کول ـ غفار له موږ سره یو دښووڼځي ځوان هلک وو ـ دلوګر اوسیدونکی وو ـ دهغه په خوا کې یې بستره پرته وه ـ هر وخت به یې دسپین ږیري خدمت کاوه ـ پیالي به یې ورته وینځلي اوچای به یې ورته جوړاوه ـ یوه ورځ یې غفار ته ویل :

یره بچیه ډیر ښه سړی یې ـ دښه سړیتوب درباندې تمامه ده ـ خو ارمان چې پر چنی (پرچمی )نه وای ـ غفار به ورته په ځواب کې ویل : کاکا زما دښه سړیتوب یو دلیل هم کیدای شي دا وي چې دښو کسانو سره یې میلمه کړی یم ـ موږ به ټولو سره وخندل ـ حاجي خټک کاکا به هر وخت دخپل زلمي توب کیسې کولي اوموږ به ورته غوږ نیوه ـ

عمر جان وویل : حاجي صیب پریږدي دحاجي غښې سیل دې وکه چې ځنګه په خپلو لومو کې زانګي ـ ما وویل ما لا دمخه لیدلې وه ـ ګورې نه چې بله غښۀ یې په مرئ پرته ده ـ خوله یې ورته بنده کړې ده ـ نو ساه به یې ځنګه ووځې ـ



www.sikaraam.com

غم یې مه کوه ساه چې دوتلو شي خپلې لارې پیدا کوي ـ

واخله چای دې واخله چې سوړ شو ـ

مننه ـ

(۲۷)

ماښام مهال له نرې شمال سره څاڅکي څاڅکي باران ځمکه لنده بل کړه ـ خو تورتم په لګیدو سره واوره هم راکښته شوله ـ یخني ورور ورو زیاتیدله ـ اوواورې دتوفان بڼه غوره کړه ـ دلړزوونکې یخنې له امله دهر چا جامې ګرځیدلې ـ دمیلمستون په کوټو کې په دوه کمپلو کې ګوزاره هم سخته وه ـ دشپې سیلۍ اوواورې ښه شدت پیدا کړ ـ شپه ټوله په درز اودروز تیره شوه ـ بهر انګړ دا مهال سپینو واورو نیولی وو ـ

څو ورځې دمخه په انګړ کې درادیو دخبرونو له پاره یو لودسپیکر لګو ل شوی وو ـ په دغه شپه سپیکر اعلان وکړ ـ

((دا مهال دمیلمستون دیوالونه نړیدلي دي ـ میلمستون پراخ شوی دی ـ نور هغه میلمستون نشته بڼه یې کاملا بدله ده ـ)) خو زه ددې خبرو په مانا ونه پوهیدلم ـ دا څرنګه کیدای شي ؟



www.sikaraam.com

میلمستون دیوالونه خو ولاړ دي ـ اوسپنیزه دروازه خو اوس هم پوره کلکه ده ـ ـشپه تر نیمایي واوښته ـ یخنی اوسړو زیاتي وځورولم ـ بهر توفان اوریده ـ خوب یو ړلم ـ اوسم دواره بیا راویښ شوم ـ کله ویښ اوکله هم په خوب کې دلودسپیکر خبرې مې په ذهن کې ځاې نیولی وې ـ ځورولم یې ، تښنولم یې ، خو ماته معما وه ـ

کامل خان بیا سپین کالي اغوستي دي ـ عمر جان هم څادر په اوږه کړې دی ـاونور هم ددروازې په لور روان دي ـ یو وایې خدای خیر کي چې زلزله ونه شي ـ بل وایي که غوایي خپل ښکرونه وخنډل نو بیا به دزلزلې سیل کوي ـ دغوایې کلیمې په خوب کې بلې دونیا ته یوړلم ـ

دروازه بیرته شوې وه ـ اسلم هم غوټه په لاس روان وو ، ما هم په پلاستیکي خلطه کې خپل کالي را اخیستي وو ـ یوه جوړه قاشق اوپنجې اویو گیلا س مې درلود په خلطه کې مې کیښودل ـ اوددروازې په لور رهي شوم ـ میلمه پالان نه وو هیڅ څوک نه وو ـ لویه کلا شاړه پرته وه ، خلکو ویل دیوالونه یې نړیدلي دي ـ خو ځینو ویل دیوالونه یې لیرې شوي دي او لیري شوي دي ـ اوکلا هم پراخه شوې ده موږ هم په ځمکه کې یو ـ ځمکه دغوایي په ښکر ولاړه ده ، اوغوایې شخوند وهي ـ

( ۲۸ )



www.sikaraam.com

چرګبانګ مهال له خوبه راپاڅیدم ، ځان مې ډیر دروند احساس کاوه ، بیګانۍ شپې حوادثو اوپیښنو مې په ذهن سخت فشار راوړی وو ، له جګیدو نه ووم ـ دکوټې په بره کړکۍ کې رڼا نه مالومیده لا تورتم وو ـ بیرته په خپله بستر کې پریوتم ـ یو وار بیا دخوب اونیمه بیداری حالت ته ولاړم ـ ګورم چې دلوېي کلا په مخ کې دمیلمنو یوه لوبه لیکه روانه ده ، ټول دښار په لور ځغلي ـ دچا پسې ګاډي اوموټرې راغلي دي اوڅوک هم پلې روان دي ـ

بیا کړکۍ ته ګورم په کړکۍ کې رڼا نه بریښي ، دتیرې شپې پیښنو مې روح اوروان اغیزمن کړی دی ، نه شم کولای سترګې پوره پرانیزم ، بیا دخپلو خوبیولو تصوراتو ډنډ ته ورلویږم ـ په لاره روان یم ـ ټول په لاره روان دي ـ ټول اوتر اوتر دي ـ هیڅوک نه پوهیږي چیرته روان دي ـ زه هم روان یم خو ددیوالونو څخه نه یم راوتلې ـ بلکې په دیوالونو کې دننه ددیوالونو په منځ کې روان یم ، اوس دروازه نه لري ـ ځمکه هم تالې وهي ـ خوځیږي ـ فکر کوم غوابې په لانت(مستې ) شوی دی ـ مستي کوي ـ ګوره چې ټول خلک یې نا ارامه کړي دي ـ روان یم ټول روان دي یوه یوه کوچنۍ غوټه دهر چا په لاس کې ده پلاستیکي غوټه ـ نه پوهیږم چې څه شیان لري ـ ارومرو چې یوه جوړه کالي ، چپلکې ، چایې جوشه اویایوه پیاله ده ـ زه هم روان یم دکلا دیوال مې په مخکې روان دی کلا لویږي ـ



www.sikaraam.com

ديوالونه حرکت کوي ـ اوپه دې ډول زه په يوه لويه کلا اوپه ړقنده ځمکه ځان احساسوم ،ويريږم ، چې غوايې ټوپ ونه کړي اودځمکې په يو بل کنج کې مې غوځار نه کړي ـ

(۲۹)

يو سهار وختي ناظر کلا په يوه کوڅه کې روان يم ـ له پورته يو خړ سپيره سړې راروان دی ، زما په ليدو يې خوله له خندا ډکيږي ـ ورنږدې کيږم ـخو هغه نه خاندي ، وچولی يې لا تريو دی لومړی هيڅ غږ نه کوي ـ بيا وايي نه پوهيږم ، زه دلته بلد نه يم ـ هغه لوېې دروازې ته ورنږدې کيږم ـهغه هم ځواب نه وايي ـ ددروازی زنځير شرنګوم غږ ترې نه خيژي ـ خو کله چې ددروازې پاس درې ته ګورم هلته يو لوی قلف پروت دی ـ ددروازې په چاود کې سترګې غړوم ـ هلته هم څوک نه بريښي ـ په انګړ کې وابښه ولاړ دي ، هيڅو نه ښکاري ـ دکور ددروازې ديوا ل مې په ذهن کې نور هم ستر کيږي داسې لکه دلويي کلا ديوال ـ همداسې جګيږې اوداسمان تر بر يده رسيږي ـپه کوڅه کې يو ه بورقه لرونکې ميرمن اوتره روانه ده ـ ترې پوښتم ددې کور خاوندان څه شول ؟ـ هغه خبرې نه کوي ـ بيا ټينګار کوم ـ وايم تروري ددې کور والا څه شول ؟ـ



www.sikaraam.com

- ترې پوښتنه کوم ؟- - کېدی شي راته ووايي دلته يوه کورنۍ اوسيده ، هغه به چېرته وي ؟- خو ځواب نه وايي اوتيرېږي -

يو بوډا سړی چې يو وخت به يې ددې کلي په مخ کې اوکله هم په دې مړستون کې دوه مېړې او پسونه څرول - په سترګو لږ کمزوری شان وو - په لمر کې به يې په سترګو لاس ايښی وو وينم - خوښېږم :

بابا ، بابا دلته يو ه کورنۍ اوسيده - هغه دې نه ده ليدلې چې چېرې تللې ده ؟

هغه ماته په ځير ځير ګوري ؟ کومه کورنۍ يادوې ؟

په دې کور کې چې اوسيده ؟ (کورته لاس نيسم )

هو يوه زړه بوډۍ اويو ماشوم وو-

هو هماغوی يادوم -

لږ غلی شو! چرت له ځانه سره يووړ - بيا يې ماته وکتل - اودلږ سکوت نه وروسته يې وويل :

((هغه به هر سهار دلته دې هديرې راتلله - ماشوم به هم ورسره و- ماشوم به ددې شهيد په قبر ډوډۍ کيښنوده - بوډۍ به لرې پټاسې کيښودلې -



www.sikaraam.com

بوډۍ به ژړل ـ ماشوم به چې کله دهغې سترګو ته وکتل نو دهغه  به هم اوښکې روانې شوي ـ ښایسته غرمې پورې به ناست ول ـ بیا به یې ددې شهید قبر جاروکړ له دې دروازې به ورته غږ وشو ـ اوبیا به کورته ولاړل ـ کله چې به ما دماشوم او بوډۍ  ژړا ولیدله ـ زه به هم حیران شوم ـ ماته هم نااشنا مالومیده ـ یوه پښتنه وه ))

بوډا غلی شو ـ په چرت کې ولاړ ـ زه یې بیرته خپلې لومړۍ ورځې ته ورستون کړم ـ هغه سهار چې له دې دروازې وتلم ـ اوله وروسته غږ وشو  چې نن ارومرو درسره دزاړه غواړي هډوکي راوړه چې ماشوم ناروغه دی چې ښوروا یې ورته ورکړم ـ له ځانه سره وایم :

☹((زه ډیر ناوخته راغلم ـ زه خو دادی راغلم نو ولې څوک نشته؟  چې ورته ووایم چې دغواړې هډوکي په ښار کې نه وو ـ اوس غواړي څوک نه شي حلالولی ـ غواړې مستي کوي ـ اوغواړې ولې ؟او دا هاغه غو ایي نه دی چې حلا ل شي  دده په ښکرونو خو ځمکه ولاړه ده ـ که څنګه ؟ ارو مرو چې دادې ددې ځای  ځمکه یې خوځولې ده اودا کورنۍ یې هم چیرته لیرې ګوزار کړې ده ـزه یې هم لیرې ګوزار کړم ، خو زه خو بیرته راغلم ـ نو دوې چیرته تللي دي ـ اوایا شرۍ به په ماشوم راختلي وي



www.sikaraam.com

اوکنه؟ ـ هغه به جوړ شوی وي اوکه نه ؟ـ نه پوهیږم ـ ښه بابا جانه !نوبیا دې هغوی ونه لیدل ؟

((نه پوهیږم ـ بوډۍ به دماشوم سره هره ورځ دې شهید ته راتلله ـ یوه ورځ ما هلته وړاندې میرې اړولې وي ـ ګډو څر کاوه ـ هغه ډیره په قهر وه ـ ایا ته یې ځوی یې ؟

هو بابا هغه زما مور وه .

هغې ډیر وژړل ـ په کوکو یې وژړل ـ همدا یې ویل ـ ته څنګه نازولی یې ـ ؟ تانه مې خپل زوی غواړم ـ ووایه زما زوی دې څه کړ ؟

څو څو میاشتو یې دې ژړا ګانو دوام وکړ ـ ماشوم به سم ورسره ژړل ـ اوبیا یوه ورځ مې لیدل چې درې څلور تنه ددې کورنه ووتل ماشوم دوه تورسرې اودوه هلکان ، هغوی یې په موټر کې کښینول څه اندک پنډوکې ورسره ول اوبیا مې ونه لیدل ـ ))

دبوډا په خبرو نور هم حیران شوم ـ

اوس چیرته ولاړ شم ؟ هرې خواته لوی لوی دیوالونه ګورم ـ ددیوالونو سره مې تندی لګیږي ـ نه پوهیږم چې څه وکړم ؟ سرک ته وتل غواړم ـ سرک کې ډیر خلک کښېته پورته کیږي ـ



www.sikaraam.com

عمر مې ذهن ته راځي ـ هغه راته یو هـ پته راکړې وه ـ ما به دلته وګوري ـ
له جیبه یو کاغذ باسم ـ

سمنت خانه دخوردظابطانو دښوونځي شاته دیارلسم نمبر کور ـ

نو ارو مرو باید هلته ولاړشم ـ هغه به وګورم ـ باید حواس او اکرمې سم
کړم ـ باید اوتر نه شم ـ داددونیا رسم دی چې کله څنګه اوکله څنګه ؟
همداسې کیږي ـ خو ولې زه چې هرې خواته ځم په دیوال مې سر لګیږي
ـ له دیواله سره مخامخ کیږم ـ له خنډ سره مخامخ کیږم ـ دحل لار رانه
ورکه ده ـ

(۳۰)

دماښام اوه بجې کیدونکې دي ـ تروږمۍ لګیدلې ده ـ دیارلسم نمبر دروازې
ته ولاړ یم ـ ددروازې ځنځیر شرنګوم ـ دڅو وارې زنځیر وهلو نه
وروسته له انګړ څخه یو ښوځی اوریدل کیږي ـ.

دروازی ته په رانږدې کیدو سره غږ کوي ـ څوک يې ؟

-زه یم خپل ـ



www.sikaraam.com

دروازه بیرته کیږي . عمر څادر له ځانه تاو کړ ي را غاړې ووځي   ـ خو خبرې یې له خولې نه خیږې ـ  خپل حال  ټول ورته وایم ـ څوک نه وو؟ کور تش اوخالي وو؟

-

یر خدای دی خیر کړي ـ ګورو به چې نور څه کیږي . ؟

-

هغه دحال احوال مې وپوښتل .؟

-

تونی یې ډک شو ـ په سورو سورو یې وژړل ـ ویل یې غرق شوم ـ

-

ه بد ې خبرې لرم ـ زه نور هیڅ نه لرم ـ په کور کې یې زما ددوعا ټغر ټول کړې وو ـ اوزما خوب هم رښتیا وو.

-

ندن – دمی ۲۱ کال ۲۰۱۱



www.sikaraam.com

-

کرګر صیب سلام ،

-

دادی دوهم ځل مې ستا ناول په ډېره مینه او علاقه ولوست. که بې له تعارفه یې درته ووایم ، زما د مالوماتو له مخې په پښتو کې تر اوسه چا داسې ناول نه دی لیکلی . مبارکي درته وایم . وروستیو تغییراتو ورته تر ډېره ځایه د جادویي ریالیزم رنګ ورکړی ، چې زما په نظر دا یو لوړ امتیاز دی او د ناول ځنې پېښې له عادي او روایتي حالت څخه راباسي .

د ناول ژبه ښکلې ده خو په ځنو مواردو کې ( ډېر لږ ) لاس وهنې ته اړتیا لري او ځنې اصطلاحات سمېدل غواړي . لکه منتې او نور ...

د ناول ډېرې څېرې داسې دي چې یا دهغه وخت په اسلامي جنبش پورې اړه لري او یا ساده مسلمانان دي چې لمنځونه کوي ، تسبې اړوي او داسې نور ، مقصد مې دادی چې د چپي جنبش د فعالینو حضور پکې کمرنګه دی . ( په خفیف حدس او ګمان سره سړی کولای شي پخپله راوي ، خان آباد ، عمر جان او عبدالرحمان په دې ډله کې وشمیري .)

له لومړي میلمستون څخه دوهم یانې پلچرخي ته د راوي لیږدېدل مبهم دې ( البته په اصلاح شوي متن کې ) یا شاید زما پام ورته نه وي شوی . په لومړني متن کې ورته اشاره شوې وه چې زما



www.sikaraam.com

په نظر د پېښو د تسلسل لپاره ضرور برېښي په اصلاح شوي متن کې د پلار د وژل کېدو مساله په ډېر ښه انداز بیان شوي ده .
دغې تراژیدۍ ته اسطوره یی بیان ځانګړی قوت ورکړی دي .

په متن کې مې ځنې ځایونه په نښه کړي ، چې ځنې یې شاید د تامل وړ وي او یا شاید ما اشتباه کړې وي .

تاته په راتلونکو کارونو کې د بریاوو په هیله .

کاوون

۲۴-

۶- ۲۰۱۱

-